# د ۸ صبح

د پرون روایت | د نن هینداره | د سبا زېری

## پښتو مجله

لومړی کال ◆ ٤٢ مه گڼه ◆ شنبې، د ۱۴۰۰، د غبرگولي ۸مه نېټه ◆ بیه ۲۰ افغانۍ





ولسمشر غني: «طالبان غواړي موږ ووژني، خو موږ غواړو دوي په غېږ کې ونیسو.»
ولسمشر زیاته کړې چې د بهرنیو ځواکونو په وتلو سره به افغانستان منزوي نه، بلکې د سیمه ییزو همکاریو نوی باب به پرانیستل شي.

# سرکرښې

## په هېواد کې د کورونا درېیمه څپه

په دې ورځو کې یو ځل بیا د کورونا ویروس د مثبتو بېلګو د زیاتوالي رپوټونه ورکول کېږي. د عامې روغتیا وزارت د شمېرو له مخې، یوازې په څلرویشتو ساعتونو کې کابو ۸۵۰ تنه په دغه ویروس اخته شوي چې له هغې ډلې ۲۵ تنه مړه شوي دي. په افغانستان کې د کورونا د درېیمې څپې خپرېدل د غویي میاشتې په نیمایي کې تایید شوي و.

په افغانستان کې د کورونا ویروس د لومړنیو بېلګو له لیدل کېدو یو کال او درې میاشتې تېرېږي. په دې موده کې هڅې شوې چې خلک له دغه ویروس سره د مبارزې لپاره روغتیایي سپارښتنو ته پام وکړي خو داسې ښکاري چې هېوادوال دغو سپارښتنو ته دومره پام نه کوي او هغه بابېزه او هسې اوازې ګڼي. همداراز ځینې بیا وایي چې د کورونا ویروس واکسین د انسان روغتیا ته زیان رسوي او آن ځینې ناروغۍ رامنځته کوي. ډېرې وګړو د همدې ګونګوسو له امله له واکسین کولو ډډه کړې ده. ځینې بیا دا واکسین ګټور نه بولي چې دغې بې پامۍ د ویروس د لاخپرېدو لپاره زمینه برابره کړې ده.

ځینې خلک په دې اند دي چې کورونا وژونکې نه ده او یو شمېر کورنۍ بیا د دغه ویروس له امله د خپلو غړو مړینه پټوي او د مړینې لامل نورې ناروغۍ ګڼي.

څېړنو ثابته کړې چې وګړي په خپله د کورونا ویروس په خپرېدو کې مهم رول لري، له همدې امله تل سپارښتنه شوې چې له ګڼې ګونې ډډه وشي، لاسونه د ورځې څو ځله په اوبو او صابون پرې مینځل شي او له کورونو بهر ماسک وکارول شي. ددغو روغتیایي سپارښتنو موخه دا ده چې د کورونا ویروس د لاخپرېدو او یو بل ته یې د سرایت مخه ونیول شي.

خو داسې ښکاري چې د ودونو، قران کریم د ختمونو او فاتحو په مراسمو، ښوونځیو، پوهنتونونو، بازارونو او موټرو کې هېڅ ډول روغتیایي تدابیر نه ترسترګو کېږي. نو ښکاره ده چې په دې ډول حالاتو کې زیانمنونکي وګړي تر ډېره له خطر سره مخامخ دي.

اوس چې د کورونا ویروس درېیمه څپه خپره شوې بایده دي چې د عامې روغتیا، حج او اوقاف، د پوهنې، لوړو زده کړو او نور وزارتونه او بنسټونه د عامه پوهاوي په برخه کې لازیاتې هڅې وکړي. د کورونا په وړاندې واکسین او د روغتیایي سپارښتنو عملي کولو ته خلک وهڅوي، ځکه د عامه پوهاوي په لوړولو سره ددغه ویروس ګواښ کمېدای شي.

ددې ترڅنګ د عامې روغتیا وزارت باید د لا بدو شرایطو لپاره چمتووالی ولري، ځکه په ټولنه کې د بې پامۍ کچې ته په پام سره که دغه ویروس لا پراخ شي ښایي وضعیت خراب شي، نو اړتیا ده چې دا وزارت په کورونا ویروس اخته وګړو ته د غوره خدماتو د وړاندې کولو لپاره خپل ټول امکانات وکاروي او همداراز هڅه وکړي چې د دغه ویروس د واکسینو د تطبیق لړۍ هم پراخه کړي. خلک هم باید ددغه ویروس په وړاندې مبارزه کې پراخه او هراړخیزه همکاري وکړي.




# لیکلړ

غني او عبدالله: ترهګري نړیوال ګواښ دی؛ له افغان ځواکونو... ۱
د افغانستان د سولې مذاکراتو په بریالیتوب کې د چین اهمیت ۲
د لغمان پر مرکز د طالبانو برید؛... ٤
طالبانو په سیمه کې د امریکایي اډو د جوړېدو پـه تـړاو خـبرداری ورکـړ ۵
د کورونا ویروس خپرېدل؛ افغانستان د بیړني حالت لپاره تیاری نیسي ٦
کمانډو ځواکونو په بغلان کې اته افغان پوځیان د طالبانو له بنده خوشي کړل ۷
ولې اسرائیل د امریکا لپاره مهم دی؟ ۸
لنډۍ ۱۰
مریدنامه ۲۵ ۱۱
د امریکا ولسمشر جو بایډن: غزه به بیا رغوو ۱۲
عبـدالله: روان وضعیت به د بیان پر آزادۍ او د رسنیو پر فعالیت اغېز ونه لري ۱۳
په امن کور کې د «نصیبي» کیسه: ورونو مې په ۱۲ کلنۍ کې ... ۱٤
پوهنې وزارت د «حق الزحمه» ښوونکو د ګومارنې لړۍ پیلوي ۱۵
په هلمند کې د ګبینو تولیـد په زیاتېدو دی ۱۷
د کابل په شکر درې ولسوالۍ کې د ۵۰ میلیون ډالرو... ۱۸
له ۴۰ هندو او سیک کورنیو سره مرستې وشوې ۱۹
راشد خان: د نړۍ پر مشرانو غږ کوم چې سیمې ته سوله راولي ۲۰

د امتیاز خاوند: سنجر سهیل
مدیر مسوول: مجیب مهرداد
د کتنپلاوي تر نظر لاندې:
د کتنپلاوي مشر: م. ظ. صمیم
مرستیال: محمد عزیز پردېس
خبریالان: احمد شاه شاداب او حفیظ الله علي خېل
دیزاین: غ. رضا مجیدي
پته: قلعه فتح الله، کابل، افغانستان

0700175510 - 0788788799
www.8am.af
shaparsepehr@gmail.com
Taimani/Qala fatullah, Kabul, Afghanistan
www.facebook.com/8am.af
www.instagram.com/8am.af

### غني او عبدالله:

# ترهګري نړیوال ګواښ دی؛ له افغان ځواکونو سره باید مرستې دوام ومومي

◆ د ۸صبح پښتو مجله

ولسمشر محمداشرف غني او د ملي روغې جوړې د عالي شورا رییس عبدالله عبدالله له واشنګټن پوسټ ورځپاڼې سره په بېلابېلو مرکو کې ویلي، چې افغان امنیتي ځواکونه له طالبانو سره د جګړې وړتیا لري، خو له دغو ځواکونو سره د نړیوالو مرستو دوام اړین دی.
واشنګټن پوسټ ورځپاڼې د غویي پر ۳۱ له محمداشرف غني او عبدالله عبدالله سره د مرکو متن یوځای خپور کړی دی.
ولسمشر غني په دغې مرکه کې ویلي، ترهګري نړیوال ګواښ دی او له امریکا او ناټو یې غوښتي، چې د افغان امنیتي او دفاعي ځواکونو ملاتړ ته دوام ورکړي. نوموړي په دې مرکه کې په هوایي او تخنیکي برخو کې د نړیوالو مرستې اړینې بللې دي.
ولسمشر له امریکا غوښتي، چې پاکستان وهڅوي؛ طالبان خبرو ته حاضر کړي. د هغه په خبره، طالبانو د هوکړې پر خلاف تاوتریخوالي زیات کړی او له القاعدې سره یې هم اړیکې نه دي پرې کړې.
ورته مهال عبدالله عبدالله دغې ورځپاڼې ته چې د ښاغلي غني د خبرو په دوام خپرې شوې ویلي، طالبان له القاعدې ډلې سره نږدې کار کوي، چې دا تر پخوا امریکا ته لا «خطرناک» دی.
نوموړی وایي چې طالبان تراوسه د سولې په مذاکراتو کې جدي نه دي او هغوی تر ډېره پر یوه اسلامي سیستم ټینګار کوي. د ښاغلي عبدالله په خبره، هغوی لا هم د هغه اسلامي نظام جزییات نه ورکوي چې دوی یې غوښتوونکي دي. نوموړي هم د نړیوالو د بشري او اقتصادي مرستو پر دوام ټینګار کړی دی.
عبدالله زیاته کړې، چې د سیاسي مشرانو یووالی د لومړۍ کرښې د ځواکونو روحیه پیاوړې کولی شي.
دا په داسې حال کې ده، چې له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو له وتلو سره هممهاله ځینې کسان اټکل کوي چې افغان پوځیان به د جګړې په لومړۍ کرښه کې له جدي ستونزو سره مخ شي.
له دې سره سره لوړپوړي امنیتي چارواکي ټینګار کوي، چې افغان ځواکونه په خپلواکه توګه د هېواد د دفاع وړتیا لري او اوسمهال ټول پوځي عملیات په خپله ترسره کوي.






# ناټو یو ځل بیا له افغان ځواکونو سره د خپلو مرستو پر دوام ټینګار وکړ

◆ د ۸صبح پښتو مجله

د ناټو یا شمالي اتلانتیک سازمان سرمنشي ینس ستولټنبرګ د استونیا له لومړۍ وزیرې کایا کالاس سره په لیدنه کې ویلي، چې له افغانستانه د دغه سازمان د سرتېرو پر وتلو او په هېواد کې د سولې له هڅو ملاتړ کوي.
د ناټو سرمنشي د غبرګولي په څلورمه په دغه سازمان کې د استونیا د لومړۍ وزیرې کایا کالاس کوربه و. نوموړي له کایا کالاس سره ګډې خبرې ناستې ته ویلي، چې له افغانستانه د دغه سازمان د سرتېرو د وتلو لړۍ په ښه او پوره همغږۍ پر مخ ځي او ناټو به له افغانستان سره مرستو ته دوام ورکوي.
د ناټو عمومي منشي ټینګار کړی، چې د ناټو ځواکونو له وتلو سره سره به دغه سازمان له افغان امنیتي ځواکونو ملاتړ کوي.
ستولټنبرګ ویلي، چې ناټو سازمان به په افغانستان کې د سولې د ټینګښت په موخه له افغانانو سره مرسته وکړي.
د ناټو د سرمنشي په خبره، دغه سازمان به له افغانستانه د خپلو ځواکونو له وتلو وروسته هم د افغان امنیتي ځواکونو روزنې، ملاتړ او مالي مرستې ته دوام ورکړي.
همدارنګ ینس ستولټنبرګ د غویي په ۳۱مه په پاریس کې د فرانسې له ولسمشر امانوئل مکرون سره په کتنه کې ویلي و، چې ناټو به له افغانستانه د دغه سازمان د ځواکونو له وتلو وروسته په درېیو برخو کې له دغه هېواد سره خپلو همکاریو او مرستو ته دوام ورکوي.
دغه درې برخې، له افغان امنیتي ځواکونو دوامداره مالي ملاتړ او مشوره، له افغانستانه بهر ځانګړو ځواکونو ته د زده کړو زمینې برابرول او د کابل د نړیوال هوایي ډګر د بودیجې برابرول ښودل شوي دي. افغان دولت د ناټو له دغې پرېکړې ملاتړ کړې دی. ناټو له دې مخکې هم ژمنه کړې، چې تر ۲۰۲۴ کال پورې به له افغان امنیتي ځواکونو سره خپلو مرستو ته دوام ورکړي.

# په بریالیتوب کې د چین اهمیت



◆ **لیکوال: غلام غوث عمري**
◆ **ژباړن: م. ظ. صمیم**

چین له ۱۹۷۹ تر ۱۹۸۹ کال پورې د پخواني شوروي اتحاد له پلوي حکومتونو پرته د افغانستان له ټولو حکومتونو سره ډیپلوماتیکې اړیکې لرلې دي. په داسې حال کې چې دغه هېواد پر افغانستان د پخواني شوروي برید غندلی و، خو د طالبانو د واکمنۍ پرمهال په افغانستان کې غیرفعال پاتې شو. د طالبانو له واکمنۍ وروسته یې له مالي او سیاسي پلوه د افغان دولت ملاتړ وکړ. دا هېواد په افغانستان کې یو لوی بهرنی پانگه وال دی. د لوگر د عینک د مسو د ایستلو او د آمو سیند د تېلو د ایستلو پروژې په افغانستان کې د چین د پانگونې لویې بېلگې دي.

د افغانستان په لویو ملي مسایلو کې د چین د رول لوبولو منطق په لاندې دلایلو دی: افغانستان له سینکیانگ سره چې تر ډېره د چین مسلمان میشته او بېلتون غوښتونکې سیمه ده لنډه پوله لري. د چین د ملي امنیت یوه اندېښنه دا ده چې د امریکایي او ناټو ځواکونو له وتلو وروسته به په افغانستان کې ناامني زیاته شي او ښایي د ختیځ ترکستان غورځنگ چې له اویغور بېلتون غوښتونکو سره نږدې اړیکې لري، د افغانستان له خاورې د خپلو پوځي عملیاتو لپاره کار واخلي. چین همداراز افغانستان داسې سیمه گڼي چې له دې لارې له خپل پاکستاني متحد سره سوداگریزې او امنیتي اړیکې لاپراخولی شي او د خپل سیال یعنې هند په پرتله به ډېره گټه پورته کړي.

تر ټولو مهمه دا چې افغانستان د چین د یوې لارې یو کمربند ډیپلوماسۍ لپاره نوي او لوی اقتصادي فرصتونه برابر کړي دي.

د افغانستان پر منرالونو او کانونو د چینایي شرکتونو پر پانگونې سربېره، زموږ هېواد منځنۍ ختیځ ته مستقیمه ځمکنۍ لاره ده. همداراز، د چین او پاکستان په اقتصادي دهلیز هم بدلېدای شي چې په اقتصادي ارزښت سره له ژوپولیتیک پلوه د چین د یوې لارې یو کمربند ډیپلوماسۍ مهمه پروژه ده.

په فودان پوهنتون کې د افغانستان او پاکستان د مطالعاتو مسوول پروفیسور دیانگ له ډیپلومات ورځپاڼې سره په مرکه کې د افغانستان د سولې بهیر په اړه ویلي:

لومړی: که امریکا او ناټو د بایډن دولت د طرحې له مخې د سپتمبر تر یوولسمې نېټې خپل ټول سرتېري وباسي، خو په افغانستان کې ښکېل لوري د سولې هوکړې ته ونه رسېږي، د افغانستان امنیتي وضعیت به خراب شي.

تراوسه ډېر شکونه موجود دي، آیا افغانستان به په راتلونکي کې اوسنی وضعیت وساتي او که نه په کورنۍ جگړه کې به ښکېل شي؟ آیا د شمال او سویل ترمنځ جنجالونه به دوام وکړي او که افغانستان به سولې ته ورسېږي؟

سربېره پر دې، چین د افغانستان د نږدې گاونډي په توگه د هېواد د سولې بهیر ملاتړی، منځگړی او آسانچاری و او ددغه هېواد د بهرنۍ سیاست یو لومړیتوب، د افغانستان د سولې بهیر بریالیتوب دی. آن تر نورو هېوادونو زیات چین هیله من دی چې افغانستان سولې او ثبات ته ورسېږي او د بیارغونې لپاره یې هڅې گړندۍ شي .

دوهم: هماغه شان چې امریکا او ناټو په افغانستان کې د خپل پوځي ماموریت د پای ته رسولو په حال کې دي، د هېواد برخلیک

> تر ټولو مهمه دا چې افغانستان د چین د یوې لارې یو کمربند ډیپلوماسۍ لپاره نوې او لوی اقتصادي فرصتونه برابر کړي دي. د افغانستان پر منرالونو او کانونو د چینايي شرکتونو پر پانګونې سربېره، زموږ هېواد منځنۍ ختیځ ته مستقیمه ځمکنۍ لاره ده. همداراز، د چین او پاکستان په اقتصادي دهلیز هم بدلېدای شي چې په اقتصادي ارزښت سره له ژوپولیتیک پلوه د چین د یوې لارې یو کمربند ډیپلوماسۍ مهمه پروژه ده.

باید د افغانانو په لاس کې وي. دا بهیر باید د افغانانو په مشرۍ او په دوی پورې اړه ولري او دغه اصل ته باید درناوی تضمین شي.

دریېیم: پرمختګ، په افغانستان کې د سولې تضمینوونکی او د حکومتولۍ د ستونزو اصلي حل لاره ده. په افغانستان کې د دوامداره سولې د تضمین په موخه، باید د افغانستان ټول لوري، د سیمې هېوادونه او نړیواله ټولنه عمومي اجماع رامنځته او له افغانستانه د ملاتړ لپاره ددغه هېواد په بیارغونه او پرمختګ کې په ګډه کار وکړي.

بالاخره، **امریکا او ناټو باید په افغانستان کې د واک سوله ییز بهیر تضمین او په مسووالنه او منظمه توګه خپل سرتېري وباسي. هېڅ هېواد باید له دې وضعیته د خپلو شخصي ګټو لپاره استفاده ونه کړي او ژوپولیتیکو سیالیو ته مخه نه کړي. ټول لوري باید د افغانستان د سولې بهیر لپاره هڅې وکړي.**

نړیوالې ټولنې په افغانستان کې د اوږدې جګړې د پای ته رسولو لپاره ددغه هېواد د کړکېچ د سوله ییز حل او له طالبانو سره د مذاکرې په موخه هڅې کړې دي. چین د سیمې د یوه لوی قدرت او د افغانستان د ګاونډي په توګه له طالبانو سره د افغان دولت د سولې په مذاکراتو کې رغنده رول لوبولی شي.

**پر پاکستان د چین نفوذ**

پاکستان د افغانستان د سولې په مذاکراتو کې یو مهم هېواد دی. پاکستان د طالبانو ډلې پر مهمو غړو پراخ نفوذ لري. د کویټې شورا، د میرانشاه شورا او د پېښور شورا د پاکستان په خاوره کې د طالبانو د تصمیمونونو مهمې شوراګانې دي. هغه اړیکې چې چین یې د افغان دولت، طالبانو او پاکستان د دولت په ګډون د قضیې له ښکېلو لوریو سره لري، چین د سولې په مذاکراتو کې د یوه غوره منځګړي رول ادا کولی شي. د چین لپاره د پاکستان ارزښت نه یوازې په سویلي آسیا کې د چین د ګټو په خوندیتوب پورې اړه لري، بلکې له دې هېواد سره مرسته کوي چې د امریکا د هند ـ اقیانوسیې تګلاره ناکامه کړي. **که ټاکل شوې وي چې چین د منځنۍ آسیا په سیمه کې د یوه تصمیم نیوونکي قدرت په توګه مطرح شي، دا هېواد دې له خپل نفوذه په استفادې پر پاکستان فشار راوړي چې پاکستان د افغان دولت او طالبانو ترمنځ مذاکراتو کې رغنده رول ولوبوي.**

**د شانګهای د همکارۍ سازمان پر غړو د چین نفوذ**

له سیمه ییزو او نړیوالو لوبغاړو سره تعامل او څو اړخیزه ډیپلوماسي، په افغانستان کې سولې او ثبات ته د رسېدو اغېزمنه لار ده. د افغانستان ستونزه تر ډېره په سیمه ییزه او د سیمې او د افغانستان د ګاونډیو هېوادونو په کچه د اوارې وړ ده. د افغانستان د سولې په مذاکراتو کې مهم سیمه ییز او له سیمې اخوا لوبغاړي، د شانګهای د همکارۍ سازمان غړي دي او چین پر هغوی پراخ نفوذ لري. د شانګهای د همکارۍ سازمان په افغانستان کې د سولې بهیر لپاره د آسانتیاوو د برابرولو او خپلو پولو د تثبیت وس لري. ددغه سازمان پر غړو د چین له نفوذه د افغانستان د سولې په بهیر او له ترهګرۍ سره د مبارزې لپاره د فعال رول لوبولو په موخه د دغه سازمان د غړو دولتونو د هڅولو لپاره استفاده کېدای شي.

په افغانستان کې بې ثباتي د شانګهای د همکارۍ سازمان غړو هېوادونو ته د کډوالۍ بهیر د زیاتوالي لامل کېږي او ددغو هېوادونو ملي امنیت او ځکمنی بشپړتیا ته زیان رسوي. د بېلګې په توګه، په افغانستان کې جګړه او ناامني به د منځنۍ آسیا له افراط پالو سره مرسته وکړي چې په افغانستان کې د خپلو فعالیتونو لپاره امن پټنځایونه جوړ کړي. د سیمې هېوادونه باید په افغانستان کې د سولې د ټینګښت لپاره کار وکړي. **د سولې په چوکاټ کې د شانګهای د همکارۍ سازمان دوه غړي هېوادونه پاکستان او ایران په افغانستان کې پراخ نفوذ لري او دا دوه هېوادونه د افغانستان د سولې بهیر په بریالي کېدو کې د پام وړ رول لوبولی شي. د افغانستان د سولې په مذاکراتو کې د رغنده رول لوبولو لپاره پر ایران د روسیې او پر چین د پاکستان فشار به د سولې بهیر د بري پولې ته ورسوي.** د افغانستان د ستونزې د اوارې او د سولې مذاکراتو د بریالیتوب په موخه د سیمه ییزې اجماع د رامنځته کولو لپاره پر دغو هېوادونو د چین نفوذ ګټور کېدای شي.

**د «یوې لارې یو کمربند» تګلارې د بري لپاره افغانستان ته د چین اړتیا**

د چین د یوې لارې یو کمربند ډیپلوماسۍ بریالیتوب، د سیمې او افغانستان په امنیت پورې اړه لري. افغانستان په ښه توګه په دغه پروګرام کې رول لوبولی شي؛ ځکه چې افغانستان د چین او منځنۍ آسیا، فارس خلیج او عربو سمندر ترمنځ تړولو لنډه لاره ده. سربېره پر دې، په دغه پروګرام کې د رول په لوبولو سره به افغانستان د خپلو اقتصادي برخ بنسټونو د رغولو وس پیدا کړي. د سیمې ناامنۍ نه یوازې د چین د یوې لارې یو کمربند د ډیپلوماسۍ په وړاندې ګواښ دی، بلکې د چین ـ پاکستان د اقتصادي دهلیز لپاره هم یو ګواښ بلل کېږي. دا موردونه د افغانستان د سولې په بهیر کې د چین د لافعال رول د لوبولو مثبت ټکي کېدای شي.

# د لغمان پر مرکز د طالبانو برید؛

## لوی درستیز او د لغمان والي د امنیت په اړه ډاډ ورکوي



◆ **د ۸صبح پښتو مجله**

طالبانو د غبرګولي په دوهمه نېټه ماښام مهال د لغمان پر مرکز مهترلام برید وکړ. د هېواد لوی درستیز محمدیاسین ضیاء چې په لغمان کې د جګړې مشري پر غاړه لري وایي چې امنیتي ځواکونه د پرمختګ په حال کې دي.

د ملي دفاع په وروستۍ خبرپاڼه کې راغلي، چې د ګډو ځواکونو په هوایي او ځمکنیو عملیاتو کې ۱۱۰ طالبان مړه او ټپیان شوي دي.

محمدیاسین ضیا ویلي، د تبلیغاتي ستونزو له کبله د لغمان په ځینو سیمو کې امنیتي ګواښونه موجود وو، خو سیمې ته د تازه دمو ځواکونو په رسېدو وضعیت بدل شوی. لوی درستیز ویلي، چې د مهترلام امنیت ټینګ شوی او هېڅ اندېښنه نشته.

دفاع وزارت وایي، لغمان د سقوط له ګواښه ژغورل شوی، خو خلک په لغمان کې د پوستو سقوط یوه دسیسه بولي.

د لغمان والي رسنیو ته ویلي، چې د ملي امنیت د اوپراتیفي مرستیال معلم قسیم په ګډون یې ۱۱۰ تنه د فساد په تور نیولي او څارنوالۍ ته یې معرفي کړي دي.

رحمت الله یارمل وایي: «د ملي امنیت اوپراتیفي مرستیال او تر سلو زیات کسان همدا اوس بندیان دي، دوی لوړه کړې وه چې له دې خاورې سره به خیانت نه کوي او دا دی ټک نه دی شوی، دوی تبنتېدلي دي.»

د لغمان والي زیاته کړې چې د تازه دمو ځواکونو په ورسېدو سره په مهترلام ښار او ولسوالیو کې وضعیت ښه شوی دی. هغه خلکو ته ډاډ د امنیت په اړه ډاډ ورکوي.

د لغمان د دولت شاه ولسوالۍ له سقوط وروسته طالبانو هڅه وکړه مرکز مهترلام تر خپلې ولکې لاندې راولي خو بریالي نه شول.

د مهترلام اوسېدونکي وایي، طالبانو ددې ولایت په زندان سخته جګړه وکړه، خو امنیتي ځواکونو ببرته په شا وتمبول.

د لغمان یو مدني فعال حنیف الله شهاب پښه یي وایي دولت شاه ولسوالۍ په بشپړه توګه د طالبانو لاسته ورغلې او ډېرې پوستې یې نیولې دي.

هغه وایي: «دولت شاه ولسوالي او امنیه قوماندانۍ د طالبانو په لاس کې دي، ډېرې پوستې یې نیولې دي، په الینګار کې هم پوستې سقوط شوې، په علیشنګ ولسوالۍ کې جګړه روانه ده.»

پښه یي وایي چې د تازه جګړو له امله په زرګونه کورنۍ بېځایه شوې او اوس له سختو ستونزو سره مخ دي. هغه زیاتوي، تازه دمې ځواکونه هم لغمان ته رسېدلي او د مرکز اړوندو سیمو کې له طالبانو سره په جګړو بوخت دي.

د لغمان د ولایتي شورا غړي وایي، دا ولایت سقوط نه دی خو که حکومت لږ ناغېړي وکړي شایي د طالبانو لاس ته ورشي.

د دغې شورا غړي ګلزار سنګروال له ۸صبح سره په خبرو کې ویلي، چې اوس مهال دولت شاه ولسوالي په بشپړ ډول د طالبانو په واک کې ده، په علیشنګ او الینګار کې پر پوستو د طالبانو بریدونه روان دي.

سنګروال وایي، د علیشنګ ولسوالۍ مقام، امنیه قوماندانۍ او یو د اردو کنډک له حکومت سره دي او همداراز د الینګار ولسوالۍ ۵۰ سلنه پوستې سقوط شوې دي.

هغه وایي: «وضعیت هېڅ د ډاډ وړ نه دی، ډېرې پوستې سقوط شوې او جګړه تر مهترلامه رارسېدلې ده، که دولت لږ غفلت وکړ نو لغمان به سقوط شي، زیات شمېر کورنۍ له خپلو سیمو بې ځایه شوې، یو شمېر وګړي مړه او ټپیان شول دي.»

له بلې خوا، مرکزي حکومت لغمان ته د ملي امنیت په چوکاټ کې ۴۰۰ مفرضه قطعه ورکړې، چې ددې ولایت ځوانان به په کې ځای پرځای شي.

د لغمان چارواکي وایي، دا قطعه به په علیشنګ، الینګار، قرغیو ولسوالیو او مرکز مهترلام کې ډېر ژر فعالیت پیل کړي.

د ولایتي شورا غړي وایي، د لغمان له مرکز مهترلام سره د علیشنګ، الینګار او دولت شاه ولسوالیو لارې هم تړل شوې دي.

زرګونه کورنۍ هم د جګړو له امله له خپلو کورونو بېځایه شوې، چې اوس په نورو سیمو کې د خپلوانو په کورونو او یا هم خېمو کې ژوند کوي.

د لغمان د کډوالو ریاست د معلوماتو له مخې، په دولت شاه، علیشنګ، الینګار او مهترلام کې ۲۰۰۰ کورنۍ بې ځایه شوې او تر دې دمه له ۱۶۱ کورنیو سره مرستې شوې دي.

په لغمان کې د ولایتي شورا غړي او قومي مشران اندېښمن دي، که حکومت بیا هم د وضعیت په کابو کولو کې بېغوري وکړي، نو لغمان به په بشپړه توګه د طالبانو لاسته ورشي.

# طالبانو په سیمه کې د امریکایي اډو د جوړېدو په تړاو خبرداری ورکړ

◆ **د ۸صبح پښتو مجله**

طالبانو د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره په سیمه او پاکستان کې د امریکایي اډو د جوړېدو په تړاو غبرگون ښودلی دی. طالبانو په دغه خبرپاڼه کې د پاکستان نوم نه دی اخیستی، خو راپورونه وایي چې امریکا غواړي په پاکستان کې پوځي اډې جوړې کړي.

د طالبانو په خبرپاڼه کې چې د غبرگولي په پینځمه خپره شوې راغلي، چې د رسنیو د راپورونو له مخې امریکا له افغانستانه تر وتلو وروسته په هېواد کې د عملیاتو په موخه په سیمه کې اډې جوړوي.

طالبانو په سیمه کې «پردي» د ناامنۍ لامل بللي او ویلې یې دي، چې په تېرو ۲۰ کلونو کې په افغانستان کې لوی ناورین آزمایل شوی دی. دغې ډلې د پاکستان نوم نه دی اخیستی او له گاونډیو یې غوښتي، چا ته د دې کار اجازه ورنه کړي.

طالبانو په سیمه کې د امریکایي اډو جوړېدل «تاریخي تېروتنه او لویه بدنامي» بللي ده.

دغې ډلې خبرداری ورکړی چې افغانان به د دغه ډول «ناوړه او پارونکو کړنو» په وړاندې چوپ پاتې نشي.

د طالبانو په خبرپاڼه کې راغلي، لکه څنگه چې دوی نورو ته ډاډ ورکړی، د افغانستان خاوره به د هېچا په وړاندې نه کارول کېږي، هغوی دې هم اجازه نه ورکوي چې خاوره او هوایي حریم یې د افغانستان پر ضد وکارول شي.

طالبانو خبرداری ورکړی، چا چې دغه ډول گام واخیست مسوولیت یې د هغوی پرغاړه دی چې دا تېروتنه یې کړې.

له دې مخکې ځینو رسنیو راپور ورکړی و، چې امریکا د ډیورنډ کرښې اخوا پوځي اډې جوړوي. پاکستان په خپل هېواد کې د امریکایي اډو د جوړېدو خبر رد کړی دی. د افغانستان د ملي امنیت رییس ضیا سراج هم دغه راپورونه بې بنسټه بللي دي.

له بلې خوا، د طالبانو یوه لوړپوړي چارواکي ویلي چې دا ډله به په هغه صورت کې د استانبول په ناسته کې گډون وکړي چې د دوي دري شرطونه ومنل شي.

دغه ډله غواړي ناسته له درېیو ورځو زیات دوام ونه کړي، په اجندا کې پر مهمو مسایلو بحث ونه شي د دواړو لوریو د ټیټې کچې غړي پکې گډون وکړي.

تېر کال شوې وه د استانبول ناسته د امریکا په وړاندیز او د ترکیې، قطر او ملگروملتونو سازمان په کوربتوب د اپریل په ۱۶مه نېټه جوړه او لس ورځې دوام وکړي. خو طالبانو په دغه ناسته کې له گډون ډډه کړې وه.



## د کورونا ویروس خپرېدل؛

# افغانستان د بیړني حالت لپاره تیاری نیسي

◆ راپور: الیاس طاهري
◆ ژباړن: م. ظ. صمیم

د عامې روغتیـا وزارت د شـمېرو لـه مخـې، د کووېډ نولـس ناروغانو شـمېر ورځ تـر بلـې زیاتېږي. یـوازې پـه یـوه اونـۍ کـې پـه هېـواد کـې د دغـه ویـروس دوه زره او ٦٧ ښېلگـې ثبـت شـوې او ٥٦ دغـه ډول ناروغـان مړه شـوي دي. پـه دې توگه، د کورونـا د فعالو مواردو شـمېر کابو اوه زره تنو ته رسـېدلی دی. دا شـمېر تر درې میاشـتې مخکـې پـورې کابـو دوه زره او ۵۰۰ تنو ته راکم شـوی و. په اوسـنۍ وخـت کـې پـه دغـه ویـروس د اختـه وگړو شـمېر شل سـلنه دی. د عامـې روغتیـا وزارت وایـي چـې هېوادوالـو د اختـر پـه ورځـو کـې روغتیایـي سپارښـتنو تـه پام ونـه کړ، له همدې امله پـه دغه ویروس د اختـه وگړو شـمېر زیات شـوی دی. د مسـوولینو پـه وینا د ۱۴۰۰ کال د طرحـې پـه چـوکاټ کـې هڅـه کېږي چـې د کارکوونکـو د ظرفیـت پـر لوړولو سـربېره، د نویـو روغتیایي مرکزونو پـر جوړولو، د پـي سـي آر آزموینـې پـر پراختیـا او د پوهـاوي بهیر پر دوام سـربېره د آی سـي یـو برخـه هـم د بیړنیو حالاتـو لپاره معیاري شـي. په دې بهیـر کـې د ونتیلاتورونو او نورو دسـتگاوو لگول شـامل دي. له دې مخکـې مسـوولینو ویلـي و چې په افغانسـتان کـې د کورونا دریېمه څپـه خپـره شـوې او خلک باید پـه هر ډول شـرایطو کـې روغتیایي سپارښـتنو ته پـام وکړي.

**د عامـې روغتیـا وزارت د شـمېرو لـه مخـې، پـه یـوه اونـۍ کـې پـه ټـول هېـواد کـې د کورونـا دوه زره او ٦٧ نـوې ښېلگـې ثبـت شـوې دي. دا شـمېرې ښـیي چـې پـه هېـواد کـې پـه کورونـا د اختـه وگـړو شـمېر د هـرې ورځـې پـه تېرېدو سـره زیاتېږي. د روغتیـا وزارت وایـي چـې هېـوادوال روغتیایـي سپارښـتنو تـه پام نـه کـوي او پـه تېـره د اختر په ورځـو کې په کورونا د اخته وگـړو شـمېر زیات شـوی دی. د عامـې روغتیا وزارت د شـمېرو پـر بنسـټ، پـه تېرو څلرویشـتو سـاعتونو کـې لـه دوه زره او ۱۹۴ شکمنو لابراتـواري آزموینـو، ۴۰٦ یـې مثبتـې وې.** همـداراز په کابـل، کنـدهـار، ننگرهـار، پکتیـا، کاپیسـا او لوگـر ولایتونو کـې لس د کووېډ نولـس ناروغـان مړه شـوي دي.

د وروسـتیو شـمېرو لـه مخـې، کابـل پـه کورونـا د څـه د پاسـه دوه زره او څلورسـوه اختـه کسـانو پـه لرلـو د لېسـت پـه سـر کـې دی. لـه پلازمینـې وروسـته، پـه ننگرهـار، کندهـار، بلـخ او لوگـر کـې د کورونایـي ناروغانـو شـمېر زیـات دی. لـه بلـې خـوا، د عامـې روغتیا وزارت وایـي چـې په ختیځو ولایتونو کـې لغمان او کونړ او سـرحدي



ولایتونو هرات او کندهار کې د کورونا ویروس مثبتې پېښې په زیاتېدو دي. په هېواد کې د کورونا ویروس د خپرېدو له هماغه پیل راهیسې په بېلابېلو ولایتونو کې په دغې ناروغۍ اخته دوه زره او ۷۹۵ تنه مړه شوي دي. په کابل کې ۹۲۸، په هرات کې ۴۴۶، په ننگرهار کې ۲۰۷، په بلخ کې ۱۸۱، په خوست کې ۸۱ او په کندهار کې ۸۰ کورونایي ناروغان مړه شوي دي.

له بلې خوا، د عامې روغتیا وزارت مسوولین وایي، که څه هم په ځلونو هېوادوالو ته ویل شوي چې روغتیایي سپارښتنو ته پام وکړي او د اختر په ورځو کې له گڼې گوڼې او په غېږ کې د یو بل له نیولو ډډه وکړي؛ خو خلکو دغو سپارښتنو ته پام ونه کړ. د عامې روغتیا وزارت د ویاند مرستیال میرویس علي زي ۸صبح ته وویل چې په کورونا د اخته وگړو د شمېر د زیاتوالي یو لامل، روغتیایي سپارښتنو ته بې پامي ده. د ښاغلي علي زي په خبره، خلک اوس هم په لازمه توگه روغتیایي سپارښتنو ته پام نه کوي.

**د سختو ورځو لپاره د ځانگړو ځارنو برخې د معیاري کولو لپاره هڅې**

د عامې روغتیا وزارت د ویاند مرستیال میرویس علي زی د کورونا ویروس له دریېمې څپې سره د مبارزې لپاره د چمتووالي خبر ورکوي. هغه وویل چې د نورو موردونو ترڅنگ د «آی سي یو» یا ځانگړې ځارنې برخې د معیاري کولو او د ونتیلاتور او نورو دستگاوو او وسایلو د لگولو کار روان دی. د ښاغلي علي زي په وینا، په ځینو برخو کې کارونه بشپړ شوي او اوس هم دا بهیر روان دی. د آی سي یو یا د ځانگړې ځارنې برخه د روغتونونو تخصصي څانگه ده چې په بېړنیو حالاتو کې ناروغانو ته ځانگړې روغتیایي خدمات وړاندې کوي.

همدارز، **د عامې روغتیا وزارت وایي چې پر نورو تیاریو سربېره په ټول هېواد کې د کورونا ویروس د واکسینو د تطبیق بهیر روان دی. ددغه وزارت د شمېرو له مخې، تراوسه د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې کابو ۵۴۰ زره تنه واکسین شوي دي. علي زی زیاتوي، هڅې روانې دي چې د چین له خوا به هم مرسته شوي واکسین هېواد ته راورسېږي. د هغه په خبره، هڅه کېږي چې د اوسني واکسین په پای ته رسېدو د چین واکسین هم هېواد ته راورسېږي.**

د عامې روغتیا وزارت د ویاند مرستیال همدارز وویل چې د کواکس د پاتې ۱۶ میلیون دوزه واکسینو د لېږدولو لپاره چې مخکې یې ژمنه شوې هڅې روانې دي. ددغو واکسینو لومړۍ جوپه چې ۴۶۸ زره دوزه واکسین وو، له دې مخکې هېواد ته رارسېدلي وو. د آکسفورډ سترازنکا واکسین چې په هند کې تولیدېږي، یوه میاشت مخکې په دغه هېواد کې د کورونا ویروس د پراختیا او واکسینو ته د سختې اړتیا له امله یې صادرات ودرول شول. د کواکس پروگرام چې د نړۍ د روغتیا سازمان تر ځارنې لاندې اجرا کېږي، په ټوله نړۍ په تېره بیا بې وزله هېوادونو کې واکسینو ته د عادلانه لاسرسي په اړه د ډاډمنېدو په موخه عملي کېږي.

# کمانډو ځواکونو په بغلان کې اته افغان پوځیان د طالبانو له بنده خوشې کړل

**◆ د ۸صبح پښتو مجله**

ملي دفاع وزارت اعلام کړی چې په بغلان ولایت کې د کوماندو ځواکونو په عملیاتو کې اته پوځیان د طالبانو له بنده خوشې شول.

د ملي دفاع وزارت د اعلام له مخې، دغه عملیات د غبرگولي په دوهمه نېټه د نوی بغلان په عمرخیلو کلي کې ترسره شوي دي. طالبانو تراوسه په دې اړه څه نه دي ویلي.

له دې مخکې هم ملي دفاع وزارت په بغلان کې د طالبانو له بنده د امنیتي ځواکونو د خوشې کولو خبر ورکړی و.

له تېرو څو اونیو راهیسې په بغلان ولایت کې د طالبانو او امنیتي ځواکونو ترمنځ سخته جگړه روانه ده.





# ولې اسرائیل د امریکا لپاره مهم دی؟

◆ لیکوال: قیس احمد قادري
◆ ژباړن: محمد عزیز پردېس

له نیمې پېړۍ ډېره موده کېږي چې د خپلو سیمه ییزو سیالانو په وړاندې د اسرائیلو غښتلي کول او د سیمه ییزو ننګونو پر وړاندې ددې هېواد د امنیت ټینګښت د امریکا د بهرني سیاست له اصولو څخه دي چې په بې سارې توګه ددغه هېواد د کانګرس له لوري یې ملاتړ کېږي. د غزې وروستی کړکېچ چې ۱۱ ورځې یې دوام وکړ، ۲۵۰ فلسطیني او ۱۲ اسرائیلي وګړي په کې ووژل شول او په زرګونه تنه یې ټپیان کړل. د امریکا متحده ایالتونو نه یوازې ځان د ساتنې لپاره د اسرائیلو له بریدونو ملاتړ وکړ، بلکې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا څلور ناستې یې بې پایلې پایته ورسولې او ددې سازمان له لوري د اعلامیې د صادرولو مخه یې ډب کړه. کړکېچ لا ختم شوی نه ؤ چې په دې هکله غږونه پورته شول چې امریکا پر اسرائیلو د ۷۳۵ میلیون ډالرو په ارزښت وسلې پلورلې دي. هغه څه دي چې امریکا یې اسرائیلو ته دومره لېواله کړې؟ په دې لیکنه کې تر یوه بریده دغې پوښتنې ته ځواب ورکړ شوی دی.

کله چې اسرائیلیانو په منځنۍ آسیا کې د خپلواک دولت شته والی اعلان کړ، له همدې اعلانه څو ثانیې وروسته د امریکا ولسمشر ترومن د ۱۹۴۸ کال په نیمه شپه کې هغه په رسمیت وپېژانده. له هغه اعلانه وروسته امریکایانو په نړۍ کې د یوازیني یهودي دولت په توګه د اسرائیلو د امنیت ټینګښت پر غاړه واخیست. د دوهمې نړیوالې جګړې په سبا ورځ امریکا چې په نړۍ کې یې د یوه لوی ځواک په توګه په آسیا کې د اروپایي او په اروپا کې د آسیایي ښکېلاکونو د قدرتونو ځای ډکاوه، د منځنۍ آسیا د تېلو او جغرافیایي موقعیت له امله دا سیمه د امریکا لپاره په یوه ستراتیژیکه او مهمه برخه بدله شوه.

**که څه هم د امریکا له لوري د اسرائیلو ملاتړ ددغه هېواد پر وړاندې د منځنۍ آسیا د اولسونو او دولتونو غوسه راوپاروله؛ خو د منځنۍ آسیا هېوادونو امریکا ته د بریتانیې له واکمنۍ د خلاصون، د اقتصادي، پوځي او سیاسي بنسټونو د ودې او په سیمه کې د کمونیزم د کابو کولو لپاره د تکیې او اړم په سترګه وکتل. نو په همدې اساس، د اسرائیلو د امنیت ټینګښت، د پخواني بریتانوي ښکېلاک د له منځه وړلو او په سیمه کې د انګلستان او فرانسې د پوځي او سیاسي حضور سره برابر ؤ. همداراز د منځنۍ آسیا په سیمه کې انحصاري نفوذ د امریکا تر ټولو مهمه ستراتیژیکه موخه وه.**

د عربو او اسرائیلو په مسئله کې امریکا په داسې بڼه چلند کاوه چې له عربو او اسرائیلو سره تعادل برابر کړي؛ له یوه اړخه یې اسرائیل د دولت په توګه په رسمیت پېژندل او هر کوم ګام چې ددغه دولت د دړې وړې کېدو لامل کېده هغه یې نه مانه، له بله اړخه یې هڅه کوله چې عربان هم له ځان سره ولري او عربان دا احساس ونه کړي چې اسرائیلو ته یې ددوی په پرتله لومړیتوب ورکړی. دغه سیاست ددې لامل شو چې امریکا د اسرائیلو او متحدینو پر خلاف د سویس په کړکېچ کې د مصر پر وړاندې ونه درېږي او جمال ناصر د سویس کانال په جګړه کې د اسرائیلو، فرانسې او بریتانیې په وړاندې بری ته ورسېږي او ددې لپاره چې د اسرائیلو پر وړاندې په ژمنه کې پاتې را نه شي، نو د بریتانیې او د بغداد تړون د غړو هېوادونو پر فشارونو سربېره تر وروستیو پورې له دغه تړون سره یو ځای نه شوه.

امریکا په منځنۍ آسیا کې د ترکیې، پاکستان او سعودي عربستان ترڅنګ اسرائیلو ته د یو متحد په توګه کتل. په شپږ ورځینۍ جګړه کې د مصر پر وړاندې د اسرائیلو بریا، اردن، سوریه او امریکا په سیمه کې د اسرائیلو وړتیا او د منځنۍ آسیا په بدلونونو کې د هغه



> امریکا لـه لانـدې پنځـو ننګونو سـره مخ ده: د روسـیې او ایـران نفـوذ، اسـلامي ترهګري، د امریـکا ضـد عمومي افکار، د چیـن د اقتصادي نفوذ وده او د اسـرائیلو د امنیت مسـئله. اسـرائیلو په سږه جګړه کـې پـه نوییمـه لسـیزه کـې لـه ترهګـرۍ سـره پـه مبـارزه کـې ثابتـه کړې چې په سـیمه کـې د امریکا د بریالـي کېـدو لپـاره مهـم رول لوبولـی شـي. امریـکا غـواړي چـې اسـرائیل همداسـې لـه کورونا او ټرمپ وروسـته د منځنـۍ آسـیا نویـو نړیوالـو اوښـتونونو او بدلونونـو کـې لـه امریـکا سـره د نویـو ګواښـونو د مخامخېـدو پـه برخـه کـې همکاري وکړي.

اهمیت تـه متوجه کړل.

**امریـکا لـه هغـې جګـړې وروسـته د اسـرائیلو پـر وړانـدې خپلـه سـتراتېژي بدلـه کـړه او د اسـرائیلو دولـت د سـاتنې پـر ځـای یـې د ګاونډ او سـیمې هېوادونـو پـر وړانـدې پـه پوځـي او نـورو اړخونو کـې اسـرائیلو تـه غـوره والـی ورکـړ. پـه داسـې ډول چـې اسـرائیل د سـیمې دولتونو او یـا د دولتونـو د اتحـاد پـه وړانـدې د مقابلـې وړتیـا ولري.**

اسـرائیل د امریکا د سـتراتېژۍ تـر سـیوري لانـدې نـن ورځ د سـیمې غښـتلی پوځـي ځـواک لـري. اسـرائیل د نـړۍ لـه نهـو اتمـي قـدرت لرونکـو هېوادونـو څخه دی. د اسـرائیلو د لومړني دښـمن په توګه مصر اوس د هغـه دوسـت او ملګـری دی. سـوریه دومـره کمـزورې ده چې له اسـرائیلو سـره د جګـړې فکر هـم نـه کـوي. امریکا غـواړي د اسـرائیلو پـوځ لـه پوځـي پلـوه غښـتلی «qualitative military edge» وي. پـه دې معنـی چـې پـه سـیمه کـې هېـڅ داسـې یو هېـواد له اسـرائیلو پورته پوځـي ځـواک ونـه لـري او د سـیمې هـر هېـواد او یـا د هېوادونـو د اتحادیـې پـه وړانـدې د مقابلـې وړتیـا ولـري.

پـه سـږه جګـړه کـې امریـکا د اسـرائیلو پـه ملاتـړ د مصـر، سـوریې، وروسـته د عـراق او .... بـې پـرې دولتونـه کابـو کـړل، امریـکا وتوانېـده پـه سـیمه کـې د شـوروي اتحـاد د نفـوذ مخـه ونیسـي او د سـیمې د یوازینـي ځـواک پـه توګـه پاتې شـي. د سـږې جګړې په سـبا اسـرائیلو د ایـران او عـراق پـه کابـو کولـو، د صـدام حسـین پـه لـه منځـه وړلـو، د سـوریې پـه کمـزوري کولـو، د اسـلامي نـړۍ ترټولـو قـدرت لرونکـې سیاسـي ډلـې پـه توګـه د اخـوان المسـلمین لالهانده کولو او په سـیمه کـې د القاعـدې او داعـش ډلـو پـه ځپلـو کـې مهـم او رول لرلـی دی.

**بایډن او اسرائیل**

بایډن د «ډیپلوماسـی بیـا راګرځېدلې» تر عنـوان لاندې خپل بهرني سیاسـت پـه شـعار سـره سـپیني ماڼـۍ تـه لاره پیـدا کـړه. بایډن د ټرمـپ پـر یـو اړخیـز سیاسـت نیوکـه وکـړه او ژمنـه یـې وکـړه چـې لـه خپلـو متحدینـو سـره بـه یـو ځـای د نویـو نړیوالـو ننګونـو پـه لـور ولاړ شـي او ژمنـه یـې وکړه چـې نړیـوال نظامم ته بـه د امریکا مشري بېرته راګرځـوي. د بایډن شـعارونو د امریکا په بهرني سیاسـت کې د بدلون پـه اړه هیلـه منـدي رامنځتـه کـړې؛ خو په عمل کې لیدل کېږي چې امریکا د بهرنـي سیاسـت پـه لویـو موضوعاتـو کـې «د چیـن او روسـیې کابـو کـول، د ایـران مسـئله، د اسـرائیلو امنیـت او لـه افغانسـتانه د امریکايـي پوځیانـو وتـل» دي، بایډن هـم پـه هغـه لاره روان دی چـې ټرمـپ پـرې روان ؤ.

د منځنـۍ آسـیا ترټولـو غـوره بهرنـي قـدرت پـه توګـه، امریکا لـه لاندې پنځو ننګونو سـره مخ ده: د روسـیې او ایران نفوذ، اسـلامي ترهګري، د امریکا ضـد عمومـي افکار، د چیـن د اقتصادي نفوذ وده او د اسـرائیلو د امنیـت مسـئله. اسـرائیلو پـه سـږه جګـړه کـې پـه نوییمـه لسـیزه کې لـه ترهګـرۍ سـره پـه مبـارزه کـې ثابتـه کـړې چـې پـه سـیمه کـې د امریکا د بریالـي کېـدو لپـاره مهـم رول لوبولـی شـي. امریکا غـواړي چـې اسـرائیل همداسـې لـه کورونا او ټرمپ وروسته د منځنـۍ آسیا نویـو نړیوالـو اوښـتونونو او بدلونونـو کې له امریکا سـره د نویو ګواښـونو د مخامخېـدو پـه برخـه کـې همکاري وکړي.

د اسـرائیلو ترڅنـګ ترکیـه، عربسـتان، افغانسـتان او پاکسـتان هـم په سـیمه کـې د امریکا متحدین دي. دې تـه پـه کتـو سـره د اسـرائیلو پـه څېـر لـه پورتـه یـادو هېوادونـو سـره د امریـکا سـتراتیژیکې اړیکـې پـه منځنـۍ آسـیا کـې د دغـه هېـواد د سـتراتېژۍ د عملي کېـدو لپاره اغېزناکـې ثابتـې شـوې دي. ترکیـه د عدالـت او پرمختـګ ګونـد پـه مشرۍ د ناټـو د پیـاوړي غـړي پـه توګـه خپلـواک سیاسـت لـري او پـه ډېـرو مواردو کـې بـل ډول او له امریکا سـره په ټکر کـې موخې څاري. سـعودي عربسـتان سـره لـه دې چې کافـي مالـي امکانـات او پیسـې لـري خـو د اسـرائیلو پـه څېـر پوځـي او اسـتخباراتي وړتیـا نـه لـري. پاکسـتان د چیـن یـو لـه سـتراتیژیکو متحدینـو څخه دی چې د ټرمپ لـه واکمنـۍ وروسـته لړترلږه د سـږې جګـړې او کورونایـي وضعیت کې د امریـکا لپـاره لـه ترهګـرۍ سـره په مبـارزه کې پاتې راغـی. افغانسـتان پـه کورنـۍ جګـړه او لـه طالبانـو سـره د سـولې پـه مسـئله کـې بوخت دی او امریکا هـوډ لـري چـې لـه افغانسـتانه ووځـي. هنـد پـه منځنـۍ آسـیا کـې دومـره نفـوذ نه لري. یـوازې اسـرائیل دی چې د ګواښـونو پر وړانـدې د مبـارزې لپـاره پوځـي او اسـتخباراتي وړتیا لري او لـه امریکا سـره ښـه راشـه درشـه لـري. له اسـرائیلو پرتـه په نـورو هېوادونـو کې له امریکا سـره د مخالفـت کچه ډېره لـوړه ده.

**پایله**

د سـږې جګـړې لـه پیلـه کله چـې امریکا منځنۍ آسیا ته د ننه شـوه، لومړنـۍ موخـه یې د منځنـۍ آسـیا انحصاري کنټـرول، د امریکا د نفوذ پـه وړانـدې د هـر ډول ګـواښ لـه منځـه وړل او پـه سـیمه کـې د لویـو قدرتونـو د نفـوذ مخنیـوی دی. امریکا تراوسـه پـه فـارس خلیـج کـې د پاتـې کېـدو، د سـیمې لـه هېوادونـو سـره پوځـي او سیاسـي اړیکـو، د جګـړو ترسـره کولـو او د سـیمې د هېوادونـو پـه پرتلـه د اسـرائیلو د غوره والـي لـه لارې خپلـې موخې ترلاسـه کـړې دي.

پـه منځنـۍ آسـیا کـې ترهګـري تراوسـه پـه بشـپړه توګـه نـه ده ورکـه شـوې. ایـران د خپلـو یوازنیمـو د بډایـه کولـو ترڅنـګ پـه هـره جبهـه کـې د امریکا مخالـف قوتونـه او سـیمه ییـز متحدیـن لـه پوځـي اړخـه غښـتلي کـوي او هـره ورځ چیـن او روسـیې تـه نـږدې کېـږي. روسـیه د منځنـۍ آسـیا پـه بدلونونـو کـې لـه اغېزناکـو قدرتونـو ګڼـل کېـږي. داعـش او القاعـده اوس هـم د امریکا د موخـو لپـاره بالقوه ګواښـونه دي. کلـه چـې اسـرائیل لـه پوځـي اړخـه غښـتلی وي، نـو دا لـه امریکا سـره مرسـته کوي چې د شـته ګواښـونو په وړاندې بریالی شـي او دې کار د اسـرائیلو ارزښـت لـوړ کـړی دی.

# ادبي ورشو

## لنډۍ

زما پرې هسې نوم بد نام شو
د لېلا سرې شونډې پېزوان خوړلې دینه

زما په تشه خندا مسته
که خوله مې درکړه لېونی به شې مینه

زما خولگۍ د هغه چا ده
چې غلامۍ ته یې طلاق ورکړی وینه

زما د زړه صدف دې مات کړ
ځکه د سترگو مرغلرې تویومه

زه د پسرلي تر گل تازه وم
ستا په بېلتون کې لکه پاڼه ژېړه شومه

زه د یورپ جینکۍ څه کړم
چې خړه پړه پښتنه لېلا لرمه

زه دې دا خپله ځواني وخورم
چې به دا ستا مینه پر بل باندې کومه

زه لېونو سره خوشال یم
زما یې خوښ دي دا شلېدلي گرېوانونه

زه هماغه مسته لېلا یم
که رنگ مې ژېړ دی له آشنا نه بېله یمه

ستا خو په یو تهمت رنگ ژېړ شو
زه د تهمت رسۍ په غاړه گرځومه

ما د کونړ له سینده ځار کړې
زما جانان به پکې مخ مینځلی وینه

زه چې سهار د خوبه پاځم
د کلمې سره دې سمه یادومه

## غزل

ما خپله کیسه کول گرېوان راسره وژړل
پوه نه سوم چې ځنگه مې جانان راسره وژړل

غېږ کې د پانوس یې سره لمبه پر سر نیولې وه
شمعې زما پر اوښکو که پر ځان راسره وژړل

ماته په اورغوي کې ازل موجونه کښلي وه
پروت لا پر ساحل ومه توپان راسره وژړل

تږې شپې مې پې کړې د سبا په سرابونو کې
پلونو د تنکاکو مې بیابان راسره وژړل

گل ته ور نیژدې سمه اغزي مې تر زړه وخیژې
زما پر تور قسمت باندې باغوان راسره وژړل

ماته له عمرونو د قسمت پیاله نسکوره سي
صبر ته د سترگو مې مُغان راسره وژړل

زما یې د کوچې حیا له زوره ژبه گونگه کړه
ټیک راسره وژړل پېزوان راسره وژړل

زه لکه ماشوم په منډومنډو ورانگې نیسمه
سیوري ته د پلونو مې کاروان راسره وژړل

پوه سوم جهاني چې د انصاف سوالونه پاته وه
وریځو خو ژړله نن اسمان راسره وژړل

عبدالباري جهاني

## دا د وچکالي گلان

دا سوی ستی وطن پرېړی چې لــــــړ وخاندي
دغه غیرتي وطن پرېړی چې لړ وخـــــــاندي
دا د مرگ او وینو سین دا د زړه چـــاودون محل
دا ژوبل زخمي وطن پرېړی چې لړ وخـــــاندي
مه وژنی د شپو په تیغ رونې د مستــــــقبل ځراغ
سترې فریادي وطن پرېړی چـــــــی لږ وخاندي
اوښکې د پیغلو تومې چـــــیغې د مظـــلوم یتیم
زوی د مورني وطن پرېړی چــــــــی لږ وخاندي
غاړه کې پرته شمله پرې چې هسکه هسکه شي
خلکو داننگي وطن پرېړی چې لـــــــړ وخـاندي
دا دوچکالي گلان نــــــور نو اوبیـــــدل غواړي
ترې دسپرلي وطن پرېړی چــــــی لږ وخاندي

اسحاق ننگیال

# مریدنامه ۲۵

♦ لیکوال څېړنوال عبدالغفور لیوال

د یوه عجیب هېواد پولې ته ورسېدل، دې ته یې د هدیرو هېواد ویل. دلته کلي او ښارونه نه وو، ټول خلک په هدیرو کې اوسېدل او د خپلو نیکونو قبرونه او هډونه یې ساتل. د ژوندیو رنگونه هم د مړیو په څېر وو، سپېره مخونه اوکوړاغې کوړاغې سترگې. ماشومان یې بربنډ د قبرونو ترمنځ په لوبو اخته وو، هر چا د څو قبرونو ترڅنگ یوه د لوخو او اغزیو جونگړه جوړه کړې وه او همغلته یې د خپلو نیکونو او خپلوانو قبرونه ساتل.

مرید یو هدیره ساتونکی وپوښت: قبرونه له چا ساتئ؟

هغه په حیرانتیا ځواب ورکړ: له خپلو دوښمنانو څخه، دلته هر قوم غواړي د بل قوم قبرونه ونړوي او د خپلو نیکونو قبرونه جوړ کړي. په هدیرو کې ځینې قبرونه خوار او سپېره وو، خوځینې نور یې ښکلي، پسوللي، له دنگو منارو او گومبدو سره، هدیره ساتونکي وویل: ښکلي قبرونه د هغو خلکو دي، چې پلویان یې د نورو قبرونو د ساتونکیو کورونه لوټي او ژوندي وژني، دوی خپله ټوله شتمني پر قبرونو لگوي.

هدیره ساتونکي لرې څو غونډیو ته گوته ونیوله :

هاغه سمسورې غونډۍ د دې وطن د وسله والو زورواکو دي، هغه یې لا په ژوند د خپلو قبرونو لپاره په زوره نیولې دي، د دوی ټول قوم اوس هاغه غونډۍ ساتي او پر قبرونو یې پیرې کوي.

مرید حیران شو، خپل ببرسری پیر یې وپوښت، چې د دې هېواد راز ورته ووایي.

پیر له خندا نه تاوراتاو شو، پر بډوډو یې لاسونه کېښول: خبر شه ! چې د دې هېواد اوسېدونکیو د ژوند چینه ورکه کړې ده، له هماغې ورځې څخه راپه دې خوا دوی پر داسې ناروغۍ اخته شوي، چې راتلونکې یې هېره ده. د دې هېواد د اوسېدونکیو له حافظې څخه د ( نن) او د ( سبا) ټکي او مانا تورل شوي او په دې نومونو څه نه پېژني. د دوی لپاره هرڅه ( پرون ) دي، پرون د دوی ویاړ، ژوند او د ژوند هدف دی. څکه خو مړه نیکونه او پخواني خلک چې د ( پرون ) استازي دي، پر دوی حکومت کوي.

او مرید پوه شو، چې دا خلک به ایله هغه وخت له دې ناروغۍ څخه ورغیږي، چې د ژوند چینه بیا مومي.



# په لوگر کې د سنځل گل دودیزه کلنۍ مشاعره جوړه شوه

♦ راپور: محمد عزیز پردېس

په لوگر کې د سنځل گل ۱۵مه کلنۍ دودیزه مشاعره د غبرگولي په ۲مه نېټه د شاعرانو، لیکوالانو، مدني فعالینو او دولتي چارواکو په گډون ترسره شوه.

د لوگر والي عبدالقیوم رحیمي په دغه مشاعره کې وویل: له دې وروسته به هڅه وکړي چې په نوموړي ولایت کې پنځلس ورځنۍ یا هم میاشتنۍ ادبي دېره جوړه کړي چې د لوگر د شاعرانو، فرهنگیانو او ځوانانو د راټولېدنې او فکري جوړښت ته په کې کار وشي.

په مشاعره کې شاعرانو خپل شعرونه ولوستل او د شعر په ژبه یې د اوربند او تلپاتې سولې، د هېواد د پرمختگ، د فرهنگ د بډاینې او ساتنې غوښتنه وکړه.

د لوگر والي د دې ولایت د اطلاعاتو او کلتور رییس ته سپارښتنه وکړه، چې د شاعرانو هغه شعرونه چې د دې مشاعرې په پار یې چمتو کړي ؤ راټول او د کتاب په بڼه یې چاپ کړي.

د مراسمو په وروستیو شېبو کې ځینو شاعرانو ته ستاینډرې ډالۍ شوې او په پای کې گډونوالو د کتابونو، لاسي صنایعو او لرغونو توکو له ننداړتونه هم لیدنه وکړه.

په لوگر کې هر کال سنځل گل دودیزه مشاعره جوړېږي، چې سږ کال په دغه مشاعره کې د امنیتي ستونزو له کبله د گډونوالو شمېر کم ؤ.

سنځل گل مشاعره ۱۵ کاله وړاندې په لوگر کې د یو شمېر ځایي فرهنگیانو او ادیبانو له لوري پیل شوه چې هر کال د سنځلي گل په غوړېدا سره جوړېږي.

په لوگر کې د «سنځل گل کلنۍ دودیزه مشاعره»، د هېواد په ختیځ ننگرهار کې د «نارنج گل ملي مشاعره»، په شمال زون کې د «ریدي گل ملي مشاعره» او د «شمال دودیزه کلنۍ مشاعره»، په میدان وردگو کې «د منې گل مشاعره»، په کندهار کې د «انار گل مشاعره» هغه دودېزې ميلې او مشاعرې دي چې د هر هجري لمریز کال په پیل او د پسرلي په لومړیو ورځو کې ترسره کیږي.

## د امریکا ولسمشر جو بايډن:

# غزه به بیا رغوو



◆ د ۸صبح پښتو مجله

په غزه کې د اسرائیل او حماس ډلې ترمنځ د ۱۱ ورځينيو نښتو په ترڅ کې ځاني تلفاتو ترڅنګ مالي زيانونه هم ډېر دي.
دغه خونړۍ نښتې وروسته له ۱۱ ورځو پرون جمعه د دواړو لوريو لخوا د اوربند په ټينګښت سره پایته ورسېدې.
په تېرو ۱۱ ورځو کې د دواړو لورو ترمنځ نښتو کې د اسرائيلو په بريدونو کې د ماشومانو په ګډون ۲۳۲ فلسطينيان ووژل شول او څه باندې ۱۵۰۰ نور ټپيان شوي. ددغو بريدونو له امله د غزې څه باندې ۵۸زره اوسېدونکي بې‌ځايه شول. په همدې پېښو کې همدارا ز ۱۲ اسرائيليان وژل شوي دي. د اوربند په ټينګېدو سره فلسطينيان واټونو ته راووتل او دغه اوربند يې په جشن سره ولمانځه.
د دواړو ډلو لخوا د اوربند په ټينګېدو سره د امريکا ولسمشر جو بايډن په همدې تړاو خپلو څرګندونو کې، د غزې د بيا رغولو ژمنه کړې ده او ويلي يې دي چې اوربند د پرمختګ لپاره رښتينی فرصت رامنځته کړی دی. بايډن همداراز ويلي چې د اسرائيلو او فلسطينيانو ترمنځ روغه جوړه ددې کړکېچ يوازينۍ حل‌لاره ده. نوموړي ټينګار کړی دی چې اسرائيلو د امنيت په تړاو يې په ژمنو کې کوم بدلون نه دی رامنځته شوی.
د امريکا ولسمشر د اسرائيل لومړي وزير بنيامين نتنياهو سره په ټيليفوني خبرو کې ويلي، تر هغو چې د سيمې هېوادونه په څرګند ډول د اسرائيل شتون په رسميت ونه پېژني، نو د فلسطينيانو او اسرائيلو ترمنځ روغه جوړه ناشونې ده.
فلسطيني چارواکي وايي چې په غزه کې د اسرائيلو د هوايي بريدونو له امله رامنځته شوې ويجاړې بيا رغولو ته په لسهاوو ميليون ډالر پکار دي. د راپورونو له مخې اسرائيلو په لنډمهالي توګه غزې ته د درملو، خوړو او سون‌توکو باروړونکو موټرونو ته اجازه ورکړې ده.
په ورته وخت کې ملګرو ملتونو هم ويلي چې په غزه کې هغو لسګونو زرو انسانانو د بشري مرستو رسول د دوی لومړيتوب دی چې د دغو نښتو له امله کډوال شوي دي.



# ولسمشر غني خپل ۱۱ سلاکاران له دندو ګوښه کړل

◆ د ۸صبح پښتو مجله

ولسمشر محمداشرف غني په تېرو څو ورځو کې خپل ۱۱ سلاکاران له دندو ګوښه او اړوند اداري تشکيلات يې منحل کړل. سربېره پر دې، ولسمشرۍ ماڼۍ د اتو سلاکارانو اداري تشکيلات هم لغوه کړي دي.
۸صبح ته په رسېدلو اسنادو کې، د زيربنا، بشري سرچينو او معلوماتي تکنالوژۍ په برخه کې د ولسمشر د لوړپوړي سلاکار محمدهمايون قيومي، د روغتيا برخې سلاکار رضوان الله احمدزي، د سويلي حوزې په ولسي چارو کې د ولسمشر د سلاکار محمدعثمان رحماني او په قومي او ټولنيزو چارو کې د ولسمشر د سلاکار محمدصادق منګل نومونه راغلي دي.
همدارنګه د ولسي شخړو د هواري برخې سلاکار، د قومي چارو سلاکار جمعه ګل خپلواک، له اداري فساد سره د مبارزې سلاکار، د ټولنيزو چارو سلاکاران حفيظ الله محسني او محمدهمايون شينواری، د ولسي چارو سلاکار عبدالرحيم کريمي او له ملګروملتونو سره د ولسمشر د همغږۍ سلاکار جاويد نوراني هغه کسان دي، چې له دندو ګوښه شوي دي.
د ولسمشر ۱۱ سلاکارانو ۸۵ کارکوونکي لرل، چې ډېرو يې د همايون قيومي په دفتر کې کار کاوه.
له بلې خوا د ولسمشرۍ دفتر له خوا د ۸ سلاکارانو د دفترونو تشکيلات هم لغوه شوي دي.
د اسلامي ارزښتونو او ثقافت برخې سلاکار نعمت الله شهراني، د ولسي چارو سلاکار امان الله مومند، د ټولنيزو چارو سلاکار دلبرجان ارمان، د ښې حکومتولۍ د برخې سلاکار عبدالحی نعمتي او د ديني او ولسي چارو سلاکار مولوي محی الدين بلوچ اداري تشکيلات هم منحل شوي دي.
همداراز، د سميع حامد او فرخنده زهرا نادري اداري تشکيلات چې له دندو يې استعفا کړې، هم لغوه شوي دي.
دولتي سرچينو ويلي، چې د ۱۹ سلاکارانو تشکيلات د جمهوري رياست د چارو اداري تر ارزونې وروسته منحل شوي دي.

# عبدالله: روان وضعیت به د بیان پر آزادۍ او د رسنیو پر فعالیت اغېز ونه لري

◆ د ۸صبح پښتو مجله

د ملي روغې جوړې د عالي شورا رییس عبدالله عبدالله د ۸صبح ورځپاڼې د فعالیت د ۱۵مې کلیزې په مناسبت د یوه پیغام په خپرولو سره ویلي چې سیاسي فضا او روان وضعیت به د بیان پر ازادۍ او د آزادو او ډیموکراتیکو رسنیو پر فعالیت کوم اغېز ونه کړي.

نوموړي په یوه پیغام کې چې د غبرگولي په دوهمه نېټه خپور شو، لیکلي: «د بیان آزادي، خصوصي او آزادو رسنیو ته د درناوي او له دوی د ملاتړ په برخه کې زموږ ژمنه په خپل ځای ده.»

د ملي روغې جوړې د عالي شورا رییس په دې پیغام کې د ۸صبح ورځپاڼې ۱۵مې کلیزې له امله مبارکي ویلې او زیاته کړې یې ده چې دغې ورځپاڼې په تېره یوه نیمه لسیزه کې شپه او ورځ د روښنایي، اطلاع رسوني او د عامه اذهانو د روښانه کولو لپاره کار کړی دی. هغه ویلي چې د بیان آزادي، خپلواکې او خصوصي رسنۍ د افغانستان د خلکو لویه لاسته راوړنه ده.

د عبدالله عبدالله په وینا، نشراتي ثبات، مسلکي کار ته ژمنتیا، پر انساني، بشري حقونو، برابرۍ او آزادۍ ارزښتونو ولاړه خپرنیزه تگلاره ددې ورځپاڼې د غښتلتیا غوره ټکي دي.

د ملي روغې جوړې د عالي شورا رئیس ویلي چې دی د ۸صبح ورځپاڼې له لوستونکو څخه دی.

هغه زیاته کړې چې د ۸صبح مسؤلین او خبریالان د خپل رسالت په درک کولو سره تر وروستیو پورې د افغانستان ډیموکراتیکو او ولسواکه ارزښتونو ته ژمن پاتې شوي او تر فشار لاندې رانغلل.

عبدالله په خپل پیغام کې لیکلي: «په دې ۱۵ کلونو کې د ۸صبح ورځپاڼې له دایمي لوستونکو څخه وم او د هرې ورځې په تېرېدو سره مې ددې ورځپاڼې په کیفیت او فعالیت کې بدلونونه تر سترگو شوي دي.»

د عبدالله په باور، ۸صبح تل د نوي پیغام لېږدوونکې ورځپاڼه وه او د نورو چاپي، انځوریزو او غږیزو رسنیو ترڅنگ له فساد سره د مبارزې، د روڼتیا رامنځته کولو، مسؤلیت منلو او په بېلابېلو دولتي او له دولته بهر بنسټونو کې د ځواب ویلو په برخو کې یې رول لوبولی دی.


۸صبح ورځپاڼې ۱۵ کاله مخکې د هېواد د رسنیو او بشري حقونو د ډگر د ځینو نوموتو څېرو لخوا خپل فعالیت پیل کړ، چې د روښنایي او ډیموکراسۍ د پلي کېدو لپاره کار وکړي.

۸صبح ورځپاڼه په دري ژبه سربېره اوس د اونیزې په چوکاټ کې په پښتو ژبه او همداراز په انگلیسي ژبه هم د ورته کړنلارې په لرلو سره فعالیت لري.



## په امن کور کې د «نصیبې» کیسه:

# ورونو مې په ۱۲ کلنۍ کې د پیسو پـه بـدل کې ورکړم



◆ راپور: اسیه حمزه‌ای
◆ ژباړه: محمد عزیز پردېس

غږ یـې لـه غږبـوه ډک و او د دردونـو کیسـې یـې په زړه کـې انبار دي وایـې: «پوهېږې څـه حـال لـرم؟ سـهار چې کلـه په خپلـه تیـاره خونه کـې لـه خوبـه راپاڅـم، د ساعتونو لپـاره د خونـې چـت تـه ګـورم او له ځانـه پوښـتنه کوم چې ولې ویښـه شـوم؟ رښـتیا هم د څه لپـاره؟» بې اختیـاره پورتـه کېږم او د صـادق هدایت پـه هغې لیکنې مې سـترګې لګېږي چـې لیکلـي یـې دي: «پـه ژونـد کـې ځینـي ټپونـه دي چې د انسـان روح د جـذام ناروغـۍ پـه څېـر انـزوا تـه بیایي او تراشـي یې.»

د خپـل تخـت ترڅنـګ لرګینـې المارۍ څخـه یـې څـو کتابچـې ماته راکـړې. خبـرې یـې د خپلـو هماغـه پخوانیـو لاسـي لیکنـو پـه څېـر دي. پـه دې خونـه کـې مـې ساه بندېږي. پـه خونـه کـې بـل څـوک نشـته. پاڅېږم او پـردې کـش کـوم، چې خونې تـه مې د لمـر وړانګې راورسـېږي. ناڅاپـه یـې لاسـونه پـه خپل مخ ومښـل او پـه بـې حوصلې توګـه یـې پـرده بېرتـه راکـش کـړه. ومـې ویـل څـه دي؟ پـه بـې پامـۍ سره یـې اوږې وخوځولـې او پر تخت کېښناسـته او لاسـونه یې خپل تنـدي تـه ونیول.

«نصیبـه» یـې مسـتعار نـوم دی، ښـایي د مـخ ترټولـو څرګنـده نښـه یـې پـر غومبـرو ژوروالـی وي، پـه ځانګـړي ډول کلـه چې خانـدي؛ خو

هغـه هـم ښـایي پـه دغـو ورځـو او کلونـو کـې لـږ خندلـي وي، ښـکلې لیکنـې لـري. لـه کتابونـو یـې پـه زړه پورې فـي البداهـه، اسـتعارې او بیتونـه لیکلـي دي. هرڅـه چـې لـري یـوازې کتـاب او کتابچـې او څو شـمعې دي. وایـي: «د انسـانانو پـه ژوند کې کله داسـې هم پېښـېږي

> هغـوی کلونـه پـه میمنـه کـې ژونـد وکـړ، لویـه حویلـۍ چـې پـه هغـې کـې یـې کلیـوال ژونـد درلـود. ټـول سـره یوځـای او هـره کورنـۍ پـه جلا خونو کې وه. نصیبـه درې لویـان ورونـه لـري او پـه سـختۍ سـره ښـوونځي تـه تللـه. هغـه بـه یـې نـه پرېښـوده او ویل به یـې چـې بدنامـي ده، ننـګ دی او بـې غیرتـي ده. همدغـه خنډونـه ددې لامـل شـول چـې نصیبـه ډېـر کلونـه لـه ښـوونځي پاتـې شـي، خـو نهیلـې نـه شـوه. آن د نوموړې کتابونـه یـې څېـرې کـړل، وهـل او ډبـول کېـده او پـر لاسـونو یـې اوس هـم د ظلـم او وحشـت نښـې شـته. هـر وخـت بـه چـې د کورنـۍ د نارینـه ؤ لپـاره د پلمـې موکـه پیـدا کېـده نـو ویـل بـه یې چـې د نجونـو یې له ښـوونځي سـره څـه؟ نجونـې دې ولـې لـه کـوره بهر لاړې شـي؟ نجلۍ بایـد زرتـرزره واده شـي چـې تېروتنـه ونـه کـړي. نجلۍ د خلکـو مـال دی او بـس!

چې ملا دي هم کړوپوي.» ومې ويل: «نصيبې! څه کېږي چې خبرې وکړې. که د خبرو بار دې سپک شي ښايي ملا دې هم سيده شي.» خپل لاس له تندي لرې کوي او ناڅاپه پورته کېږي، پر الماري دوه گيلاسه دي چې يو د مسکا ښکلي بڼه او بل يې آسماني رنگ لري. گيلاسونه يې له چايه ډک کړل او په لاسونو کې يې دوه چاکلېټه دي. يو يې خپله واخيست او بل يې زما د گيلاس ترڅنگ کېښود. ويې ويل: «دا هم چای او چاکلېټ.»

هغوی کلونه په ميمنه کې ژوند وکړ، لوبه حويلي چې په هغې کې يې کليوال ژوند درلود. ټول سره يوځای او هره کورنۍ په جلا خونو کې وه. نصيبه درې لويان ورونه لري او په سختۍ سره ښوونځي ته تلله. هغه به يې نه پرېښوده او ويل به يې چې بدنامي ده، ننگ دی او بې غيرتي ده. همدغه خنډونه ددې لامل شول چې نصيبه ډېر کلونه له ښوونځي پاتې شي، خو نهيلې نه شوه. آن د نومورې کتابونه يې څېرې کړل، وهل او ډبول کېده او پر لاسونو يې اوس هم د ظلم او وحشت نښې شته. هر وخت به چې د کورنۍ د نارينه وُ لپاره د پلمې موکه پيدا کېده نو ويل به يې چې د نجونو يې له ښوونځي سره څه؟ نجونې دې ولې له کوره بهر لاړې شي؟ نجلۍ بايد زرترزره واده شي چې تېروتنه ونه کړي. نجلۍ د خلکو مال دی او بس!

نصيبې له همغه ماشومتوبه په خپلو کتابچو کې لويې هيلې ليکلې. نوم يې پرې ايښی وُ «له ميمنې د يوې نجلۍ د خوبونو د يادښتونو ټولگه.» هغه وايي: «په دې ټولگه کې مې ليکل چې يوه ورځ به کابل ته د پوهنتون او زده کړو لپاره ځم، يوه لويه ليکواله به رانه جوړېږي او داسې نورې هيلې مې له ځان سره لرلې.» پوښتنه مې ترې وکړه: «څه وشول؟» همدغې خونې ته يې اشاره وکړه چې د کابل په امن کور کې ده او وې ويل: «لنډه يې ووايم، همدا وشول.»

نصيبه چې ۱۲ کلنه شوه، د زده کړو او کتابونو گليم يې راټول شو او کتابچې يې ورته وسېځلې او هغه يې خياطۍ ته بوتله چې جامې ورته وگنډي. خپله خبره نه وه، خو تمه وه چې د واده مراسم يې ترسره شي. هغه د شاپور په نوم يوه ۵۷ کلن ته چې معيوب او د اوو بچيانو پلار و ورکړل شوه.

نصيبې تر ټولو لومړی له خياطې واورېدل چې واده به شي. خياطې وويل: «څه عجيب واده، دې نازک بدن سره به دې څه وکړي و نجلۍ؟ لر ځان پياوړی کړه.» ددې جملو په اورېدو سره بايد څه شوي وای؟ هېچا هغې ته حق نه ورکاوه، نه پلار، نه مور او نه هم ورونو. مور يې هم د نارينه وو په واکمن سيستم کې لويه شوې وه. آن تر دې چې کله به نصيبې په کتابچه کې څه ليکل، شخړه به يې ورسره کوله. د مور دليل يې دا وُ چې په ذهن کې د خوبونو او هيلو لرل ښه نه دي، ځکه چې بدن ته يې شيطان دننه کېږي.

په داسې شرايطو کې به يوه ۱۲ کلنه نجلۍ څنگه مبارزه وکړي؟ جشن جوړ شو، په داسې حال کې چې ناوې د خپلو بدمرغيو د پيل په وير غمجنه وه. خوشحالي جوړه وه او بوډا د خپلې کم عمره ناوې نازک بدن ته کتل. د نصيبې کورنۍ په دې معاملې کې ښې پيسې جېبونو ته کړې، خو د نصيبې د تريخ ژوند نوی باب پرانيستل شوی وُ. نصيبه نه شي کولای د خپلو خبرو په منځ کې وژاړي. غلې شوه او هېڅ يې نه ويل. هغه وايي: «اوس هم د واده د لومړۍ شپې بد خوب گورم، په هغه وحشت او ظلم سره څرگند تېرې چې پر ما وشو، آن خپل بدن مې نه پېژانده، نه مې مياشتينۍ ناروغي پېژندله او دا ځکه چې د پيسو په بدل کې د جبري واده قرباني شوې وم.»

هغه آن په دې نه پوهېده چې د څومره پيسو په بدل کې پرې معامله شوې، خو ددې کيسې زړه بوږنوونکې برخه يوازې همدا نه ده. هغه د شاپور مشر زوی لخوا په هغه شپه د جنسي تېرې قرباني شوه چې، شاپور په روغتون کې بستر وُ او آن وگواښل شوه چې که غږ يې پورته کړ نو داسې به يې ووژني چې وينه يې هم ونه بهېږي.

څو کاله تېر شوي وُ، اوس نصيبه ۱۵ کلنه وه، آن داسې ورځ هم راورسېده چې نور يې د وهلو ډبولو او تيري پر وړاندې د مقابلې وس نه درلود. هم ځوانه وه او هم ښکلې او تر ټولو مهمه دا چې د هغې له ژوند سره لوبه شوې وه او بريدونو پرې دوام موندلی وُ، ځکه چې هغې د شاپور لپاره اولاد ونه شو زېږولی. د نصيبې په وينا، نور نو ستومانه شوې وه او د صبر کاسه يې هم ډکه وه. کله به په سختۍ ترې پوښتنې او گروېږنې کېدې. که څه هم د خپل عمر په پرتله مړاوې شوې او ماته شوې وه. زړه يې غټ کړ او يوه ورځ وروسته له هغه چې وهل ډبول شوې وه، زړه يې وکړ او ځان يې د فارياب د پوليسو مرکز ته ورساوه. عريضه يې وليکله او دا چې قضيه ډېره جدي وه، نو بې له ځنډه په ميمنه کې امن خونې ته ولېږدول شوه.

د گواښونو لمن پراخه وه، دومره چې ددې ولايت په سترې محکمې او د ښځو چارو په رياست کې د قضيې څېړلو له گواښ پرته بله پايله نه لرله. نومورې د خپلې او د شاپور د کورنۍ له خوا وگواښل شوه. پرېکړه وشوه چې دا ولايت د نومورې لپاره امن نه دی او په نږدې مياشتو کې کابل ته ولېږدول شوه.


د روحي، رواني او جسمي ماتو په منځ کې سخته ټپي او ځپل شوې وه او همدارنگ گواښونو پرې فشار راوستی وُ، خو هغې خپل انتخاب کړی وُ. په کابل کې امن خونې ته ولېږدول شوه. قضيه يې د طلاق په اخيستلو پايته ورسېده. له هماغه ستونزو او کړاوونو سره کتابونو، کتابچو، قلم او زده کړو ته راوگرځېده.

اوس چې له هغه وخته پنځه کلونه تېر شوي، نومورې به په ۲۰ کلنۍ کې له ښوونځي فارغه شي. هيله يې اوس هم پوهنتون دی او دا چې يوه ورځ کتاب هم وليکي. هغه وايي: «ژوند به مې وليکم او ټول هغه څه به وليکم چې غورځېدلې يم او بېرته پورته شوې يم.»

د نصيبې د ژوند کيسه د دې خاورې د ډېرو هغو نجونو د ژوند يوه بېلگه ده چې په نازکو او کمزورو بدنونو سره، مبارزه کوي، هڅې کوي او ژوند يې بيا هم دوام لري او له ډېرو کړاوونه او ناخوالو سره سره، هيله منې دي چې يوه ورځ خپلو هيلو ته ورسېږي.

نصيبه چې اوس هم د کابل په يوه امن کور کې ده، وايي: «له روحي پلوه زيانمنه شوې، خو ښځه بايد تسليم نه شي؟ نه، زه نه تسليمېږم.»

# پوهنې وزارت د «حق الزحمه» ښوونکو د گومارنې لړۍ پیلوي



◆ د ۸صبح پښتو مجله

پوهنـې وزارت ویلـي، چې د «حـق الزحمه» ښـوونکو د گومارنې لـړۍ پیلـوي. دا پرېکـړه په ښـوونځیو کـې د ښـوونکو د کموالي لـه کبله شـوې ده.

پـه روان ښـوونیز کال کـې د هېـواد پـه ټولـو ښـوونځیو کـې د ښـوونکو د کمښـت سـتونزه لیـدل کېـده، چـې لـه کبلـه یـې ډېـری زده کوونکـي لـه زده کـړو بـې برخـې شـوي دي.

پوهنـې وزارت پـه تېـرو کلونـو کـې د حـق الزحمـه ښـوونکو پـه گومارنـې دا سـتونزه اوارولـه، خـو لـه څه وخت راهیسـې د «حـق الزحمـه» او قـراردادي ښـوونکو د گومارنـې لـړۍ درېدلـې، چې دا چـاره پـه هېـواد کـې د ښـوونکو د کمښـت لامل شـوې ده.

اوسـمهال د پوهنـې وزارت ویلـي، چـې لـه مالیـې وزارت او د اداري اصلاحاتـو او ملکـي خدمتونـو لـه کمېسـیون سـره یـې د ولسمشـر د حُکـم لـه مخـې هوکـړه کـړې، چـې پـه ښـوونځیو کـې د «حـق الزحمـه» ښـوونکو له گومارنې سـره دغه تشـه ډکه کـړي.

پوهنـې وزارت ویلـي، چـې د دغـه بهیر د روڼتیا پـه موخه باید د غوښـتنوالو اسـناد د بـا صلاحیتـه ادارو لـه خوا تایید شـوي وي او همـداراز به گومارل شـوي ښـوونکي بایومیټریک او معاشـونه بـه یـې د بانـک له لارې اجرا کېږي. تراوسـه روښـانه نه ده، چې د پوهنـې وزارت څومـره «قراردادي» ښـوونکي گوماري.

# کاناډا تر ۲۰۲۴ کال پورې په کال کې ۹۰ میلیونه ډالره له افغانستان سـره مرسته کـوي

◆ د ۸صبح پښتو مجله

پـه کابـل کـې د کاناډا سـفارت اعلان کـړی، چې هېواد یـې تر ۲۰۲۴ کال پورې هر کال له افغانسـتان سـره ۹۰ میلیونه ډالره مرسـته کوي.

دغـه سـفارت د غبرگولـي په څلورمه نېټـه په یوه ټویټ کې افغانسـتان لـه هغـو هېوادونو څخه بللی چې کانـاډا به تـرې ملاتړ کوي.

د کانـاډا د اعـلان لـه مخـې، دا هېـواد لـه ۲۰۰۱ کال راهیسـې ۳.۷ میلیـارد ډالـر لـه افغانسـتان سـره مرسـته کـړې ده.



پـه کابـل کـې د کانـاډا سـفارت ویلي: له افغانسـتان سـره بـه د کاناډا همـکاري دوام ومومي.

کانـاډا همدارنگـه پـه ډاگـه کـړې، چې د افغانسـتان د خلکو له سـولې او سـوکالۍ د ملاتـړ لپـاره د دغـه هېـواد ژمنه پر خپـل ځای ده.

د ویلـو وړ ده، چـې لـه افغانسـتان سـره د کاناډا مالي ژمنـه د جینوا په کنفرانـس کې اعلان شـوې وه.

# په هلمند کې د گبينو توليـد په زياتېدو دی



◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ راپور: محمد عزيز پردېس

د هلمند ولايت د کرنې رياست چارواکي وايي، چې د شاتو مچيو روزنې صنعت د پراخېدو او د مالدارۍ برخې د پياوړتيا په موخه يې د شاتو مچيو له روزونکو سره په گډه هڅې پيل کړې چې په دې ولايت کې د شاتو مچيو د روزنې صنعت ته وده ورکړي.

ددې رياست د مسؤلينو په وينا د همدې هڅو په پايله کې په هلمند کې د شاتو د توليداتو کچه څه باندې ۳۵ ټنو ته رسېدلې ده. د هلمند د کرنې رياست د چارواکو په وينا تېر کال ددې ولايت د شاتو د توليد کچه ۲۴.۵ ټنه وه، چې سږکال به دا کچه ۳۵.۷ ټنو ته لوړه شي.

د کرنې وزارت د معلوماتو له مخې، د هلمند د کرنې رياست لخوا بزگرانو ته تر دې دمه نږدې ۴۰۰ د شاتو مچيو فارمونه جوړ شوي او په دې سره په دغه ولايت کې د شاتو توليدات مخ په زياتېدو دي. د کرنې وزارت په خبرپاڼه کې راغلي چې اوسمهال د هلمند ولايت په فارمونو کې ۱۳ زره او ۱۲۰ صندوقه مچې تر روزنې او پالنې لاندې دي.

په ورته وخت کې د هلمند ولايت د شاتو مچيو فارم لرونکي هم وايي چې، د شاتو توليدات يې د پخوا په پرتله زيات شوي او سږکال هم د تېر کال په پرتله په کې د پام وړ زياتوالی راغلی دی.

د هلمند ولايت د کرنې رياست د معلوماتو پر بنسټ، په تېر ۱۳۹۹ لمريز کال کې په دغه ولايت کې ۲۴.۵ ټنه شات توليد شوي ؤ او په روان لمريز کال کې به ددې ولايت د شاتو د توليد کچه ۳۵.۷ ټنو ته ورسېږي. د کرنې وزارت وايي چې سږکال د هلمند ولايت کرنې رياست له لغمان ولايت څخه ۲۵ زره د ببرو نيالگي دغه ولايت ته لېږدولي او روزنه او پالنه يې کوي. ددې وزارت مسوولين زياتوي، ددغو نيالگيو گل د مچيو لپاره غوره خواړه بلل کېږي، چې له مخې به يې په راتلونکي کې د ببرې شات هم په دې ولايت کې توليد شي .

د افغانستان د کرنې وزارت په دې وروستيو کې په هېواد کې د شاتو د توليداتو د زياتوالي خبر ورکړی دی.

د راپورونو له مخې، اوسمهال  په ټول هېواد کې د شاتو مچيو ٦ زره ۷۵۷ فارمونه شته او په تېر لمريز کال کې په کابل او ولايتونو کې ۲ زره ۴۹۰ ټنه شات توليد شوي ؤ.



# په زابل کې د اوبو څلور لوی بندونه جوړېږي

◆ د ۸صبح پښتو مجله

زابل له هغو ولايتونو څخه دی چې ډېری کرنيزې زمکې لرې او اوسېدونکي يې تر ډېره په کرنيزو چارو بوخت دي. دا ولايت چې په وچه کې راگير دی اوس د اوبو د مديريت لپاره نوې هڅې پکې پيل شوې چې له مخې يې په دې ولايت کې د څلورو نويو بندونو د جوړولو چارې پيلېږي. ددې ولايت چارواکي وايي، چې ددغو بندونو د جوړولو لومړني کارونه بشپړ شوي دي. ددغو بندونو په جوړېدو سره به په دې ولايت کې کرنه وده وکړي او د برېښنا ستونزه به يې هم تر يوه بريده اواره شي.  د زابل د کرنې رياست مسوولين وايي، چې د کرنې د ودې او اوبو د کابو کولو لپاره د څلورو لويو بندونو د سروې لومړني کارونه بشپړ شوي دي. ددغو بندونو په جوړېدو سره به کابو ۴۰ ميليونه متر مکعبه اوبه کنټرول او ۳٦ زره جريبه زمکه خړوبه شي.

د زابل والي احمد گل رسولي وايي چې ددغو بندونو په جوړېدو سره به ۷۷ ميگاواټه برېښنا هم توليد شي، چې په زابل کې به تر ډېره د برېښنا ستونزه حل شي. نوموړی زياتوي، دغه څلور بندونه به زابل په يوه عايداتي ولايت بدل کړي او دا ولايت به پر پښو ودروي، همداراز به په زرگونه هکتاره زمکه هم خړوبه کړي او د زابل اوسېدونکي به له برېښنا څخه برخمن شي. پر همدې مهال ددې ولايت د اوبو لگولو چارو رييس ناصر شاه وزير وايي چې د۱۳۲ ميليونه افغانيو په ارزښت په مرکز کلات او ولسواليو کې د شپږو لويو او وړو بندونو د جوړېدو کارونه روان دي. نوموړی وايي: دغه څلور بندونه او څو نور چک ډېمونه چې اوس يې تداركاتي بهير بشپړ شوی چارې يې پيلېدونکې دي.

له بلې خوا، د دې ولايت يو شمېر کرونگر تمه لري، چې دولت دې د بندونو جوړولو ته ځانگړې پاملرنه وکړي.

د زابل دوه کرونگر دوست محمد او همايون وايي چې په زابل کې په تېرو شلو کلونو کې د بندونو د جوړېدو په برخه کې کار نه دی شوی او د وچکالۍ له امله يې ډېری بڼونه وچ شوي دي. دوی تمه لري چې دولت د اوبو د بندونو جوړولو ته جدي پام وکړي. دوی زياتوي، اوس مهال يو شمېر کورنۍ د اوبو د نشتوالي له امله نورو سيمو ته کډه شوې دي. دوی وايي: ډېر خوښ دي چې دولت د اوبو د مديريت په برخه کې هڅې پيل کړې ترڅو د کليوالو سيمو اوسېدونکي له خپلو کروندو ښه عوايد ترلاسه کړي. په زابل کې په داسې حال کې د څلورو بندونو د جوړېدو خبره کېږي، چې افغان دولت هوډ لري، د اوبو د مديريت په موخه د هېواد په بېلابېلو سيمو کې يو شمېر بندونه جوړ کړي.

# د کابل په شکر درې ولسوالۍ کې د ۵۰ میلیون ډالرو په لګښت ښارګوټی جوړېږي



◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ راپور: محمد عزیز پردېس

د کابل ولایت په شکر درې ولسوالۍ کې د غالۍ اوبدونکو د استوګنیز ښارګوټي د جوړولو کار پیل شو. د کابل په شکر درې ولسوالۍ کې ددغه ښارګوټي کار د غبرګولي په درېیمه نېټه پیل شوی دی.

د کابل د والي مطبوعاتي سلاکار مرید مودودي وایي چې ددغه ښارګوټي ځمکه له دې مخکې د زورواکو له خوا غصب شوې وه، خو په دې وروستیو کې دولت بېرته ترلاسه شوې ده.

د هغه په وینا، دغه استوګنیز ښارګوټی د ښار جوړولو او ځمکو وزارت له خوا د کورنیو صنعتکارانو او پانګوالو لپاره جوړېږي.

د غالۍ اوبدونکو (قالین بافان) ښارګوټی کابو شپږ زره د استوګنې، سوداګریزې او صنعتي نمرې لري چې پر درې زره جریبه ځمکه جوړېږي.

مسوولین وایي چې په دغه ښارګوټي کې د پانګوالو، صنعت کارانو او غالۍ اوبدونکو لپاره ځانګړې ځایونه په پام کې نیول شوي دي.

د ښاغلي مودودي په خبره، ددغې پروژې ټول لګښت ۵۰ میلیون ډالره دی چې د دولتي او خصوصي برخو له خوا ورکول کېږي.

د کابل د والي دفتر د ښار جوړولو او ځمکو وزارت د مرستیال له قوله وایي چې سږکال د دولتي بودیجې د تخصیص پر بنسټ، ۹۸ میلیونه افغانۍ ددې پروژې د شاوخوا دېرش کیلومتره سړک د رغولو لپاره په پام کې نیول شوي دي.

د کابل والي محمد یعقوب حیدري هم ددغې پروژې په پرانیستونکو مراسمو کې ویلي چې ددې سړک په جوړېدو سره به د غالۍ اوبدونکو ښارګوټي د کار د پرمختګ لپاره امکانات او آسانتیاوې برابرې شي.

د ویلو وړ ده چې د دغه ښارګوټي د جوړولو پلان د ۱۳۹۹ کال د چنګاښ په لومړیو کې منظور شوی دی.

ددغه پلان له مخې، په نوموړي ښارګوټي کې کابو پینځه زره د استوګنې نمرې، څه د پاسه درې سوه صنعتي ساحې، ۵۰ استوګنیز بلاکونه او ۷۷ سوداګریز بلاکونه په پام کې نیول شوي دي.

# له ۴۰ هندو او سیک کورنیو سره مرستې وشوې



◆ د ۸صبح پښتو مجله

د پېښو په وړاندې د چمتووالي په چارو کې د دولت وزارت، د افغانستان له ځلوېښتو هندو او سیک کورنیو سره د خوراکي او نورو اړتیا وړ توکو مرسته وکړه. دغه کورنۍ تازه بېرته هېواد ته راستنې شوې دي.

په دغو مرستو کې دېرش ډوله خوراکي او نور د اړتیا وړ توکي شامل دي چې د غبرګولي په لومړۍ نېټه پر دغو کورنیو ووېشل شوې.

ددغو مرستو د وېشلو پرمهال د پېښو په وړاندې د چمتووالي په چارو کې د دولت وزارت د بېړنیو عملیاتو د مرکز رییس احمد خان نافع او د هندو او سیک وګړو استازي حاضر وو.

یو شمېر هندو او سیک وګړي تېر کال په هېواد کې د تاوتریخوالي او امنیتي ستونزو له امله له هېواده وتلي وو. په ولسي جرګه کې د هندوانو او سیکانو استازي تریندر سینګ خالصه دغه کډوالي لنډمهاله بللې وه. په روان کال کې د افغانستان یو شمېر هندو او سیک اوسېدونکي بېرته هېواد ته راستانه شوي دي.

---

# د مشرانو جرګې یو پخوانی غړی، د ۲۰۴ ټنه غنمو د غلا په تور محاکمه شو



◆ د ۸صبح پښتو مجله

د هېواد لویه څارنوالي وایي چې د مشرانو جرګې یو پخواني غړی د ۲۰۴ ټنه غنمو د غلا په تور په یو نیم کال بند محکوم شو.

د سترې محکمې ویاند او د حقوقي او قضایي مطالعاتو رییس احمد فهیم قویم ۸ صبح ته ویلي چې د اداري فساد له درنو جرمونو سره د مبارزې لومړنۍ محکمې د غبرګولي په دوهمه نېټه د مشرانو جرګې پخوانۍ غړی نظر محمد فقیري په یو کال او شپږ میاشتو بند محکوم کړی دی. د سترې محکمې ویاند زیاتوي چې فقیري د ۲۰۴ ټنه غنمو په غلا تورن دی.

اخوا، قویم وایي چې دغه سناتور د ۲۰۴ ټنه غلا شویو غنمو د بیې په ورکولو چې یو میلیونو ۲۱۴ زره و ۵۷۱.۴۳افغانۍ کېږي هم محکوم شوی دی.

---

# صالح طالبانو ته په خطاب کې: له جګړې لاس واخلئ او اوربند وکړئ



◆ د ۸صبح پښتو مجله

د ولسمشر لومړي مرستیال امرالله صالح تېره ورځ خوست ولایت ته په سفر کې یوې ولسي غونډې ته د وینا پرمهال پر طالبانو د اوربند غږ کړی دی.

صالح په دغه غونډه کې پر طالبانو غږ کړی چې له جګړو لاس واخلي او اوربند وکړي. نوموړي طالبانو ته په خطاب کې ویلي، حاضر یؤ چې اوربند وکړو او د جګړې پرځای جرګې ته لاړ شو.

د ولسمشر لومړي مرستیال وویل: «حاضر یوو سر له سبا اوربند اعلان کړو، د جګړې پرځای جرګې ته ورشو او خبرې وکړو.» صالح همداراز ویلي چې، طالبان باید په دې پوه شي چې پاکستان یو ځل بیا غواړي د دوی پر سر معامله وکړي. طالبانو له دې مخکې ویلي ؤ چې که د سولې په خبرو کې پرمختګ وشي نو د اوربند په اړه به یوې هوکړې ته ورسېږي، خو اوس چمتو نه دي چې اوربند وکړي. په تېر کوچني اختر کې طالبانو درې ورځنی اوربند اعلان کړ چې افغان دولت هم له خپله اړه اوربند عملي کړ. امرالله صالح خوست ولایت ته د خپل سفر پر مهال ددې ولایت ملکي او پوځي مسؤلینو او قومي مشرانو سره کتلي او د خوست د ځانګړو ځواکونو له مرکزه یې هم لیدنه کړې ده.

## راشد خان:

# د نړۍ پر مشرانو غږ
# کوم چې سیمې ته سوله راولي

◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ محمد عزیز پردېس

د افغانسـتان د کرېکټ ملي لوبډلې پیاوړي لوبغاړي او د کرېکټ نړۍ سـتوري راشـد خـان د نـړۍ پـر مشـرانو غږ وکړ چې سیمې او افغانسـتان ته د سـولې د راوسـتو لپاره هڅې وکړي.

راشـد خـان پـه خپـل ټوېټـر لیکلي چـې د نړۍ مشـران دې د سـولې لپـاره کار وکړي، نوموړي ویلـي کـه څـه هـم هغـه سیاسـتوال نـه دی، خـو دا چـې پـه جګـړه کـې لـوی شـوی او هغـه وېـره حـس کـوي چـې ماشـومان ورسـره مـخ دي.

راشد خان ویلي چې دغه حالت نور نه شم زغملی او موږ باید د حق لپاره ودرېږو.

د کرېکـټ دغـه نوموتـي سـتوري دا هـم ویلـي چـې هـره ورځ ګـورم پـه فلسـطین او افغانسـتان کـې ماشـومان وژل کېـږي.

د افغانستان د کرېکـټ ملـي لوبډلې دغه لوبغاړی په داسـې وخت کـې دا څرګندونې کـوي چـې په افغانسـتان کـې ورځ تربلـې امنیتي وضعیـت ترینګلی کېـږي او خلک د هېـواد د راتلونکـي په اړه ژوري اندېښـنې لري.

پـه وروسـتیو میاشـتو کـې د کابـل پـه ګـډون د هېـواد پـه ګـوټ ګـوټ کـې د خونړیـو بریدونـو پـه پایلـه کـې د ماشـومانو او ښـځو پـه ګـډون ګـڼ شـمېر ملکـي وګـړي مـړه او ټپیان شـول.

پـه ورتـه وخـت کې په فلسـطین کې هـم د اسـرائیلو او حماس ډلې ترمنځ په وروسـتیو تاوتریخوالیـو کـې زیـات شـمېر فلسـطینیان مـړه او ټپیـان شـول او همـداراز یو شـمېر ودانۍ ویجاړې شـوې.

د کرېکـټ نـړۍ ددغـه سـتوري څرګندونـې پـه ټولنیـزو رسـنیو او ګـڼ شـمېر ملـي او نړیوالـو رسـنیو کـې کښـته و پورتـه کېـږي او د خلکـو له مثبت غبرګون سـره مخ شـوې دي.


د افغـان کرېکـټ دغـه وتلـی لوبغـاړی پر ملـي لوبډلې سـربېره د کرېکټ نـړۍ په ټولو سـترو سـوداګریزو لیګونـو کـې لوبېـږي او د نـړۍ پـه ګـوټ ګـوټ کـې میلیونونـه مینه وال لري.



# عکسونه خبرې لري







راشد خان د نړۍ پر مشرانو غږ وکړ چې سیمې او افغانستان ته د سولې راوستو لپاره هڅې وکړي.
راشد خان: «د نړۍ مشران دې د سولې لپاره کار وکړي، زه سیاستوال نه یم، خو په جګړه کې رالوی شوی یم او هغه وېره حس کوم چې زموږ ماشومان ورسره مخ دي.»







د افغانستان د فوټبال ملي لوبډلې د غبرګولي په پینځمه نېټه د اندونیزیا فوټبال لوبډلې ته په تمریني لوبه کې ماته ورکړه.




عکسونه له ټولنیزو شبکو کاپي شوي دي.

Hasht e Subh Magazine
Yesterday's Narrative Today's Mirror Tomorrow's Hope



د کندهار د میر هزار جامع جومات بیا ورغول شو، دغه جومات په یوه وخت د ۵۰۰ تنو لمونځ کوونکو د ځایولو ظرفیت لري.









د ټولګټو وزارت: «د کمپنۍ ـ وردګو ولایت د دوهم سړک جوړولو کار چټک شوی دی.» ددغه وزارت ویاند وایي چې دغه سړک ۲۴،۵ کیلومتره اوږدوالی او ۱۱،۳ متره پلنوالی لري چې د کمپنۍ له پله تر دُراني بازار پورې غځېږي.